PROPERTY OF ACKU

اراده

فرمان الهي(ج)

بخوان وپروردگار تو بزرگوارتر است

آنکه علم آموخت به وسیله قلم.

(العلق. آیات ۳-٤)

ارشاد نبوی(ص)

آموختن علم برهر مرد وزن مسلمان فرض است.

(رواه مسلم)

سال اول شماره دوازدهم | چهارشنبه ۱۳ ثورسال ۱۳۸۰ | مطابق ۹ صفرالمظفرسال ۱٤۲۲ هـ ق | برابربا ۲ مي سال ۲۰۰۱ مېلادي

د ۵۷ کال دغوېي داوومې نېټې خونړی کودتا !

حبیب الله رفیع

په افغانستان کښې دېوې سیاسي ،تولنیزې اوبشرې فاجعې پیلامه

د ۵۷ کال دغوېي په اوومه نېټه د کمونستانو خونړی کودتا زمور دمېړي پرپله مخ په وراندې روانه خوپه عین حال کښې مامونه او آرامه ټولنه دیوې خطرناکې او مهلکې زلزلې پ ښه ولړزوله اوسیاسي درزونه ، تولنیزې ربړې او بشري ستونځې يې پکښې یوه په بله پسې وزېرولې او هېواد يې له یوې داسې لویې فاجعې سره مخامخ کړ چې ګڼ اړخونه او بعدونه يې درلودل او زمور دژوند ټولو خواؤ ته يې ژور زیانونه ورواړول.

کمونستانو زمور دمسلمان او تاریخي ملت ددښمنۍ او ملي ارزښتونو په پیمالولو سره زمور دټولنې د تاریخ په اوږدو کښې جوړ شوي توازن او تعادل ګډوډ کړ او دروس دغلامۍ دپلي کولو په هڅو سره يې ددې پر آزاد مین ملت قهر اتم مخ

مولوی وکیل احمد متوکل:

دپاکستان اوسني سلوک دقومی اختلافاتو او زړه بداوي سبب

کابل د اپریل ۲٦ :دطالبانو دبهرنیو چارو وزېر مولوي وکیل احمد متوکل دافغان مهاجرینو په ځورولو خپله اندېښنه ښودلې ده اوپه دې اړه يې په کابل کې دپاکستان سفیر عارف ایوب دبهرنیو چاروو وزارت ته وروغوښت اودپاکستان دبهرنیو چارو دوزېر عبدالستار په نامه يې یو لېک هغه ته وسپارە، په لېک کې راغلي دي چې دتورخم اوچمن په سرحد کې دفارسي ژبو اوپښتو ژبو په وراندې دتبعیض سلوک څخه کار اخستل کېږي چې داسد دفرقه اي او قومي اختلافاتو او زړه بداوي سبب ګرځي اودافغانانوملي وحدت ته تاوان رسوي.

اتم مخ

منازعه و اختلافات و بهانه گیري ها و کج بحثي هاي مجالس روم و قبرس چنانچه قبلاً هم حدس زده مي شد و به موافقه نرسیدند بلکه از همدگر رم کردند،

دشتی

جرګه هاي روم و قبرس

چون به پیش در رسند، از همدگر رم میکنند»

باید از زاویه هاي مختلف سیاسي و غیر سیاسي ، مورد مطالعه و تحلیل قرار داد. اول: زاویه یا چشم انداز سیاست هاي عندي گروهي یا تنظیمي متعدد، گروه هاي در حال جنگ و

بقیه ص ۷

په افغانستان کې :

پوهندوی داکتر امان الله حمیدزي مریلینډ- امریکا

په قدرت جنګ دي که دقدرتونو جنګ

(۱) برخه

دقدرت ګټل او ساتل دانسانانو نه ان دحیواناتو غریزه هم ده. دقدرت لرلو احساس اصلاً دپرمختګ لاره ده او دنړۍ تمدن او پرمختیا ښایي تر ډېره حده دهمدې احساس محصول وي. خو ترڅو چې دا احساس دطبیعي چوکاټ په حدودو کې وي نو تر کنترول لاندې وي او کله چې له طبیعي حدودو پښه واړوي، نو ببا تاریخ ښودلې ده چې ددنیا غټې فاجعې يې مینځ ته راوړي. مقدوني سکندر، چنګېز او تیمور دپخوانو وختونو او هټلر او ستالین معاصرو دورو دنامحدوده قدرت غوښتونکو مثالونه دي.

که څه هم دقدرت دلاس ته راوړلو هلې ځلې په کلو ، باندې او قاموسونو کې هم روانې دي، خو دلته زما دا بحث په هغو اشخاصو دی چې دمملکت داری او

بقیه ص ٦

کوفي عنان:

درافغانستان حکومت ایتلافي تشکیل شود

۲٤ابریل:

کوفي عنان سرمنشي سازمان ملل متحد در حالیکه ادامه جنگ را در افغانستان عبث مي خواند افزود : آرزو دارد معضله افغانستان باتشکیل یك حکومت ائتلافي حل شود.

وي در رابطه با حل وفصل مشکلات افغانستان بر ضرورت انتخاب سیاست وسیع البنیاد تاکید کرده افزود که تعزیرات وضع شده بر افغانستان موثر نبوده و نمي تواند در جهت روشن شدن قضایا و حل انها مفید واقع شود.

سر منشي سازمان ملل متحد گفت:. جنگ هاي احتمالي طي ماه هاي آینده وخشکسالي مشکلات دیگري را در افغانستان سبب شده وزنده گي افغانها را جداً تهدید خواهد کرد.

ویلیم بی مایلم سفیر امریکا در اسلام آباد:

هدف اصلی تحریم ها قیادت طالبان است

۲٤ اپریل:

پاکستان منافع خاصی در افغانستان دارد و از نفوذ خود بر طالبان استفاده نکرده است.

اثر تعزیرات وضع شده بر مردم افغانستان کم بوده و هدف اصلی و اساسی آن قیادت طالبان است تحریم ها صرف برطالبان نافذ شده و ارسال کمك های بشردوستانه رامانع نمیشود.

ویلیم بی مایلم سفیر امریکا در اسلام آباد پاکستان طی مصاحبه اختصاصی باتشریه انگلیسی زبان «هیرالد» افزود: افغانها بیشتر ازجنگ، قحطی و خشکسالی متأثر شده اند ، وی تحریم هارا انعکاس دهنده خشم جامعه بین المللی در برابر دهشت افگنان، دهشت افگنانی که دست های شان با خون مردم بیگناه رنگ بوده و هنوز هم در صدد قتل و کشتار هستند

بقیه ص ۴

۳۵ تنه افغان مهاجرین دبم چاودولو په تور ونیول شول

اسلام آباد - دا پریل ۲٦ :

داسلام آباد دسبو پلورلو په مارکېټ کې دیوه بم دا ښودلو او چاودولو په تور ۳۵ ، افغان مهاجر ونیول شول.

په ورکړ شویو خبرونو کې وېل شوی پاکستاني پولیسو وېلي چې دغه افغانان داسلام آباد «کچه آبادی» په سیمه کې اوسېدل چې دغه بم دچاودلو په پېښه کې دلاس لرلو په تور نیول شوي او ترتحقیق لاندې دي.

خبر زیاتوي دامنیتي چارو ماهرین دغه بم دجوړښت او استعمال شوبو موادو په هکله په څیړنه بوخت دي. دپاکستان امنیتي پولیسو دنیول شویو کسانو لست خپور کړي چې په هغو کې دشفیع الله، ارشد پاتې اتم مخ

دثور کودتا که وسله وال پاڅون؟

دګوند بې نظمی ، دخلقیانو اوپرچمیانو اختلاف اودشوروي توپیری سیاست مور مات کړو. ببرک «شینواری»

له کارمل سره دروسانو راتګ زمور خلکو ونشو زغملای اوپرضد يې احساسات راوپارېدل . «ابرار مهرګن»

دخلق پرچم نیم ګوند اودمسکو واکمنان دډاکتر نجیب له ملي روغې جوړې سره مخالف وو. «عبدالرشید وزیري»

پېښور-دا پریل ۲۲ نېټه:

د ۱۳۵۷ کال دثور اوومه زمور په هېواد کې دټولو تېرو ، روانو او راتلونکو بدمرغیو دپیل ورځ وه مور د دې کودتائی ورځې دماتې دعواملو څېړلو له پاره پرېکړه وکړه چې د «خلق - پرچم» ګوندونو دلور رتبه غړیو له خولو نه څه خبرې تاسې درنو لوستونکو ته وراندې کړو نو ځکه مو: دتره کې په رژیم کې دافغانستان دځوانانو ددموکراتیک سازمان رئیس اودحفیظ الله امین په وخت کې دسرحدونو چارو وزارت معینین او سرپرست وزېر ببرک شینواری، دکارمل په حکومت کې دافغانستان په لویه ځارنوالی کې دمرکزی اداري مسلکي رئیس، دهرات، بلخ او کندهار دزونونو دځارنوالیو رئیس« ابرار مهرګن» دنجیب په وخت کې د قومونو او قبایلو دچارو معین، دافغانستان دخلک دموکراتیک ګوند دمرکزی کمیټې دکنترول دځانګې رئیس او بیا دوطن ګوند دمرکزی شورا دتشکیلاتو دځانګې رئیس عبدالرشید وزیري ته بلنه ورکړې دا دی ددوي نظریات تاسې ته وراندې کوو ، قضاوت ستاسې درنو لوستونکو واک دي مور ستاسې نظریاتو ته هم سترګې په لارو.

دګردي میز په پیل کې:

له بناغلی ببرک شینواری نه وپوښتل شول چې: دثور دکودتا دناکامېدو عامل څه و دخلک دموکراتیک ګوندولې و نشو کړای چې خپل پروګرام تطبیق کړي؟

ده دیوې اوږدې تبصرې په ترڅ کې وویل: زما له نظره دافغانستان دخلک دموکراتیک ګوند په داسې وخت کې جوړ شوې وچې:

نړیوال شرایط اوپه نړۍ کې

بقیه ص۳

دثور دکودتا دماتو څېړلو له املې دګردي میز ګډون کوونکی

دنقش وسایل ارتباط همگانی در پیوند با رخدادهای دو دهه اخیر

(الپتگین) ص٤

ووایم که نه وایم

(فایض) ص۲

با تأسف از کودتای ۲٦ سرطان ۱۳۵۲ تا امروز معیارها باور و اعتماد تفنگ و تفنگ زن بوده است

اراده

د تأسیس کال: ۱۳۷۹ هـ ش
پنځلس ورځنی خپلواکه تحلیلی خپرونه
دامتیازخاوند: افغان نشراتی مرکز
مؤسس: سید داؤد
مسوول مدیر: عتیق الله پژواک
دکتونکي ډلې په مرسته
پوست بکس: ۹۰۹ یونیورستی ټاون، پېښور
تیلفون: ٤١٦٩١، فکس: ٨٤١٧٨٥
E-mail: amrc@brain.net.pk

بنام خداوند مهربان — سرمقاله

کودتاهای ثور در نقطه تقابل باخواست مردم افغانستان قرار گرفتند

جنگیدن با امکانات دیگران اگر غلامی نیست راه را برای غلامی کوتاه می سازد

اکنون که بیست و سه سال از راه اندازی کودتا ثور میگذرد، طی این همه سالهای خونین و مرگ آفرین افغانستان بکشوری مبدل ساخته شده است که نمی توان مانندش را در روی زمین جست، افغانستان کشوری هست شده از فداکاری و قربانی میلیونها افغان جانشار که طی قرون متمادی آزاد ، سربلند، مستقل و پر افتخار زیسته است، دارد قدم بقدم از حافظه تاریخ انسانی و قطار ملل آزاده جهان بیرون ساخته می شود

مرحله‌نخستانرشیزم جاری در افغانستان روز هفت ثور سال ۱۳۵۷ با ریختن خون، فیر تانك و فرود آوردن سمبول وحدت ملی افغانستان، بیرق سه رنگ آن ، آغاز یافت، طی این روز جناح های خلق و پرچم حزب دموکراتیك خلق افغانستان با براه اندازی کودتا خونینی که از سوی اتحاد شوروی (بزرگترین قدرت نظامی وقت) رهبری می شد جمهوری دموکراتیك را اعلام داشتند. این گام در آن مقطع یی از زمان برداشته شد که شعور سیاسی توده ها (اکثریت) در زمامداری عنعنوی و زنده گی نسبتاً آزاد خلاصه می شد. تکامل ، کار آیی و پختگی احزاب، اتحادیه ها، سازمانهای اجتماعی و فرهنگی در حدی نبود که بتوانند نقش تعیین کننده یی در ساختار پایه های اقتصادی و سیاسی جامعه داشته باشند، رشد اقتصادی و سیاسی جامعه بطی اما پلانیزه شده به پیش میرفت، باوجود فقر و مشکلات اقتصادی توده های مردم غربت را بر بغاوت ترجیح می دادند، از اینرو راه اندازان و طرفداران کودتا بجای یافتن پایه های مردمی در محاصره مردمی قرار گرفته و فرامین و قوانین شان در ورای صفحات کاغذ و نعره های مرده با دو زنده باد روی سرك های قیر باقی ماند.

تحلیل های سطحی، برخورد های احساساتی و اقدامات عجولانه رهبران خلق و پرچم در رابطه با زیر بنای اقتصادی جامعه، تضادهای منطقوی و کشمکش های بین المللی بزودی اکثریت نفوس کشور را در جهت مخالف با جمهوری دموکراتیك خلق قرار دارد. «پیشاهنگ طبقه کارگر و همه زحمتکشان افغانستان» با اتکا به طرز تفکر خرده بورژوازی در نبود کارگران و عدم حمایت بذرگران علیه تمامی طبقات، اقشار، احزاب، ارزشهای مذهبی و روابط کلتوری مردم افغانستان اعلام جنگ آشتی ناپذیر طبقاتی داده و خود ملت افغان را وا داشتند تا بجای حرکات منظم سیاسی و مبارزات مسالمت آمیز حزبی و سازمانی دست به قیام زده تفنگ بردارند.

درمرحله دوم، فراخوانی یا بهترگفته شود زمینه سازی برای پامال کردن افغانستان با عظمت تاریخی و تقدس اسلامی آن توسط طراحان اصلی کودتا (قشون سرخ اتحاد شوروی وقت) که بر ابعاد آشتی ناپذیری ها افزود، قیام های خود سر در نبود رهبر وامیر، آقا و ملا، حزب و سازمان جوشیدن خروشیدن گرفتند و ده سال تام ملت مسلمان افغانستان علیه تجاوز گران و رفیقان شان مردانه سینه سپر کرد و چنان جانانه در آن جنگ نابرابر رزمید که جهان را به شگفتی وا داشت و با قربان کردن بیش از یکنیم میلیون فرزند خویش ابر قدرت جهان را به زانو در آورده مجبور به عقب نشینی ساخت.

پس از خروج قوای شوروی، گروه های ساخته شده بخاطر تحفظ منافع بیگانگان و ویرانی افغانستان به اشاره و اراده اربابان خارجی شان بکار افتادند با انکه رژیم بجا مانده از تسلط شوروی در برابر آنان دست به مقاومت زد اما از آنجاییکه رژیم خود با قهر مردمی مواجه بود نمیتوانست بقای سیاسی اش را حفظ کند وچنان هم شد.

مرحله سوم، باز هم در روز هفتم ماه ثور (چارده سال بعد، سال ۱۳۷۲) رژیم چوکات شده در سرزمین دیگران بصوب کابل راه انداخته شد، پښه در ص ۷

ددې ګڼې تبصره — مبصر سید داؤد

دغوښې اومه او اتمه

دافغانستان په ۲۳ کلن روان ناورین کې د ۱۳۵۷ کال دغوښې اومه او د ۱۳۷۱ کال دغوښې اتمه دافغانانو دبدمرغیو پېلامه ګڼل کیږي.

د ۱۳۵۷ کال دغوښې په اومه چې په پخواني شوروي اتحاد پورې دتړلې خلک دموکراتیک ګوند وسله وال پاڅون عملي شو د دولت واکمني د دغه ګوند لاس ته ورغله که څه هم دغوښې له اومې نېټې دمخه افغانانو دسولې او سوکالۍ په فضا کې آرام ژوند تېراوه له دې سره چې د قدرت انحصار دیوه شخص او هم دیوې ډلې په واک کې ؤ په دې حکومت کې شخصي دوستانو، ملګرېو او کورنۍ هم په کې زیاته ونډه درلوده د ولسواکۍ کومه نښه نه لېدل کېده مګر هڅه روانه وه چې افغانانو ته خپل مشروع حق ورکړ شي هېواد هم د پرمختګ په لوري روان شي مګر سره د دې ټولو ناخوالو ولس له دولت سره تر یوه حده همکار ؤ، ملت د نېکمرغیو هیله درلوده او په دې هیلې بې شپې ورځې تېرولې.

دهېواد واکدار سردار محمد داؤد هم څه ناڅه خپلو دلومړیو کلونو شپو او ورځو تېرولو ته ځیر شوي و او هڅې یې کولې چې خپلې سهوې او غلطۍ سمې کړي مګر د غوښې داومې په وسله وال پاڅون سره دافغانستان نوم، بېرغ او ملي سرود بدل د بوي ډلې د ظلم او استبداد واکمني په عقدوي ډول پېل شوه د خلک دموکراتیک ګوند د قدرت د انحصار په داسې نشو کې ډوب ؤ چې ولس ورته مفهوم نه درلود آن تر هغې چې خپل د ګوند مؤتلفین او صمیمي ملګري یې هم راوپرزول.

افغانستان په واقعي توګه د بدمرغیو پراو پېل کړ درد ، غم، وژنې او مهاجرت عملي څپې پېل شوې، د دې بدوحالاتو په نتیجه کې د شوروي اتحاد پوځونه افغانستان ته راغلل د شوروي پوځونو دراتګ سره سم نړیوالو غبرګون وښود او افغانستان د بوي لوبې ډګر وګرځېد ، دنړۍ بېلابېلو هېوادونو په کې خپلې وسلې وآزمویلې. مګر اتل په خدای او هېواد مین ولس د پخواني شوروي اتحاد پوځیان له هیواده وشړل چې دا دنړۍ په معاصر تاریخ کې ستر باب دي. مګر په ډېر افسوس چې لا تراوسه د ورور وژنې جګړه روانه ده.

افغانان ستړي ښکار بدل د ملکرو ملتونو د سازمان څخه یې مرسته وغوښته ، ملګرو ملتونو د ښېنان سېوان په استازېتوب هلې ځلې پېل کړې مګر دا هڅه د هېواد د کورنیو او بهرنیو دښمنانو له خوا تالا والا شوه او بله توره ورځ د غویې داتمې په نامه چې په ښکاره کې ورته د مجاهدینو تنظیمونو د قدرت د لېږدونې بڼه ورکړې وه مګر ټولې هڅې د بوي ډلې او په تېره بیا د یوکس د قدرت دانحصار له پاره پېل شوې.

د پورتنیو اوښتونو نو په پام کې نیولو سره د غوښې داومې او اتمې ځانګړتیاوې په لنډ ډول داسې شمېرو:

د غوښې اومه:

۱- د پخوانی شوروي اتحاد د پلویانو وسله وال پاڅون ؤ.

۲- دافغانستان جمهوري دولت دافغانستان د خلک دموکراتیک جمهوریت په نامه بدل شو.

۳- د خلک دموکراتیک ګوند او دولت واک له حفیظ الله امین سره ؤ د ګوند او دولت مشر یو سمبول ؤ.

٤- د غوښې داوومې د کودتا ترمخه دولتي سېستم تالا ترغی شوې، ټولې پوځي، سیاسي ، اقتصادي او اداري چارې ګوندیانو ته وسپارل شوې، علمي کدرونه او کارپوهان مهاجر، بندیان او ووژل شول.

۵- د عام ولس سره هر اړخیز بدچلند لکه د پردیو په څېر د وروڼو قومونو او قبایلو تر منځ تعصب او تبعیض رامینځته شو.

٦- د پخوانی شوروي اتحاد د مشاورینو زیاتوالي او ورپسې سور

باتي په ۷ مخ کې

دوه نه هېرېدونکې خاطرې یا د ماضي په رڼا کې د مستقبل تګلاره

فایض

دنړۍ هر ملت په خپل ملي تاریخ کې ښې اوبدې خاطرې پاڼې اوبد حوادث لري چې دا دواړه باید د تاریخي امانتونو په توګه ژوندۍ وساتل شي او سبانې نسل ته په امانت سره انتقال کړای شي. چې را تلونکي نسلونه د خپل ملي تاریخ د ماضي په رڼا کې د خپل مستقبل تګلاره وټاکلې شي.

اتفاقاً زمور په تاریخ کې دوه ورځې او دوه خاطرې داسې جوخټې سره راغلې چې باید دا دواړه همداسې ژوندۍ وساتو، په دې کې یوه د ۱۳۵۷ لمریزکال د ثور اوومه نېټه ده په دې ورځ په افغانستان کې د کاجي بې په لاسو روزل شوي خو د اسلام، هېواد او هېواد والو دښمنان را پاڅېدل او د مسکو په مرسته یې د داود خان هغه حکومت رانسکور کړ چې د هغوی په مرسته رامنځ ته شوي و. او پرچمیانو خو به لا وېلې چې مور د خپل ارمان ته رسېدلي وو، په هېواد کې شاهي رژیم نسکور او پرځای یې جمهوري نظام منځ ته راغلی او په دې اړه یې بود ابلاغیه هم خپره کړه. د ثور اوومه زمور د تېر دروېشت کلن ناورین چې اوس هم لا دوام لري او خدایې خبر چې تر کله به دوام کوي، پېلامه ده نو په دې توګه افغان اولس باید د دې ټولو ناخوالو کورنۍ او بهرنۍ عاملین وپېژني او د ا ځورونکې خاطره هېره نکړي، د ثور پر اوومه د بنامار د خپې تل ته یوازې د افغانستان دوربنکته کولو پېلامه نه وه بلکې غوښتل یې چې سور بنامار د منځنۍ ختېځ نفت خېزه هېواد ونه او د هند دسمندر په لار پرتې ځمکې تولې خپلې کړي او ورپسې د هند دسمندر غوږ په وکړي او د خپل لوېدیځ سېال مخه ډپ کړي، داد روسانو آني پرېکړه نه وه بلکې دې ته یې د پېړیو انتظار کړي و خو زمور واکمنان د پېل په غوږ کې اوده وو چې تر څو یې د عیش ونوش بندیار جوړو پر افغانستان بې حکومت وکړ چې سره بنامار ورته ستر ګې را وابستې نو بیا هم هېواد سهې سلامت د بنامار په خوله کې ور واچاوه.

ووایم که نه ووایم

د ثور اتمه بیا زمور د هېواد دویاړلي تاریخ یوبل فصل و باب دي په دې ورځ یو د لوی بېرې ته رسېدلي وو، سور بنامار د افغانستان ننګیالي مجاهد په توره توپې توپې شوی و، شوروي اتحاد د تېر تاریخ برخه شوي وه پر یوې افسانوی امپراتوري خاوري ور اوښتې وې او د هوې انقلابي اېډیالوژۍ باد وتی وو او نړۍ ته د روسانو او کمونېزم ماهیت ډېر نېه جوت شوي و.

د ثور اتمه ډېره سره ورځ وه د دې حماسي اتلانو ټوله نړۍ د کمونیزم د هېولا له شره خلاصه کړه او اېله د لوېدیځ په کلسو کې اوبه تودې شوې خو په خواشینۍ سره د دې ستړي ورځ او ستړي حماسي د کم رنګه کولو پخاطر لا له پخوا نه سېمه بزې او نړیوالو توطیې جوړې شوې دي د دې توطیو دلړۍ لومړی مرحله د ۱۹۸۸ د اپریل پر څوارلسمه په ژنیو کې پېل او د ۱۳۷۱ د ثور په څلورمه د ۱۹۹۲ د اپریل ۲٤ د پېښورې ترون په لاسلیک سره تکمیل شوه.

کورنیو ناسمو اقداماتو دابهرنۍ توطیې لا پسې پیاوړې او ګړندۍ کړې او دې ته بې زمینه مساعده کړه چې د دې توطیو نورې لړۍ پېل شي او له افغانستان نه یو اور غورځوونکي غر جوړ کړي چې هره لحظه یې کې دانفجار او اور د بادبدو احتمالات قوي دي.

اوس زمور اول د ته پکار ده چې د اتېرې پېښې په دقت سره وڅاري، له ماضي نه درس واخلي خپل خواخوږي او بدخواهان وپېژني مور ولېدل چې نور خو لا نور چې ان د سپېڅلو حرمنو خدمتګارانو د اسلام او اسلامي انقلاب مدعیانو هم زمور د ګرد انسانیت د حامي او مدافع اولس د وښو په فوارو کې خپلې ګټې ولټوي او هغه ورځ د ټولو هېره شوه چې هغې سرلوڅي او پېښې پېښې اولس د هغه سره بنامار مخه ونیوله چې وروستي منزل یې د فارس خلیج بډای هېواد ونه او جنوبي آسیا وه. افغان ولس د حضرت اقبال دهغه سترخوب تعبیر و چې وېلې بې وو:

مسلمانان دې دنیل له ساحله تر کاشغره
پورې د حرم پاسباني ته یو موتي شي خو
افسوس چې مسلمان او غیر مسلمان
د افغان تر قیادت لاندې د اسلامي بېړۍ
پر مختلونکي قافله په لار کې چور او
چپاول کړه او د ستړو حماسو هوسترداستان یې د خپل تکمیل مرحلې
ته پرېښود.

******

دثور کودتا که وسله وال پاڅون ؟

دشوروي په مشري دچپو ګوندونو اوله آزادۍ بنبوونکو غورڅنګونو سره دهغوی اړیکو اوپه افغانستان کې کورنیو شرایطو هم دیو چپ ګوند دجوړېدو غوښتنه کوله. وینبو ځلمیانو هم دقانون له مخې په افغانستان کې دیوه قانوني دولت درامنځ ته کېدو غوښتنه کوله.

په دغو شرایطو کې دافغانستان دخلک دموکراتیک ګوند جوړ شو. داسې هم نه وه چې په هغه کې ټول چپ خلک شامل وو په موسسه کنګره کې یې راستو خلکو حتي درهبرۍ ترسطحي برخه درلوده مثلاً ادم خان ځاځی چې چپ سړی نه ؤ دکنګرې دمشر په حیث یې رول لوبولی دی.

ظاهرشاه هم ددې ګوند په مقابل کې لوی عکس العمل لکه نوره نړۍ کې چې دچپو ګوندونو په وړاندې ښودل کېده ونشو ښودلی. که څه هم ظاهرخان مهارت با تجربه درلوده چې غوښتل یې بین المللی توازن وساتي دوي په کابینه کې هم دشرق اوغرب توازن ساته داسې افراد به یې ټاکل چې دواړه لوری تر یوه حده راضي وساتي که دوي دکومو ملي قوتونو په حیث تبارز نه کاوه بلکه کېدای شوای چې کومه وېره هم تري نه پیدا کېدله.

نوزه ویلی شم چې خلک دموکراتیک ګوند یو چپ ګوند ؤ داچې داکمونیست ګوند ؤ اوکه نه ځما دنظره په وروسته پاتې هېوادو کې شوروي اتحاد کمونیستو ګوندونو ته ضرورت نه درلود. هغوی غوښتل چې شوروي پرسته ګوندونه منځ ته راشي اوله هغوی نه به داستخباراتي امکاناتو له پاره کار اخستل کېده اود K.G.B تر سرپرستۍ لاندې ګوندونه به یې جوړول نو ځکه زه وایم چې داګوند دایدیالوژۍ پر بنا نه و نو کمونیست ګوند هم نه ؤ.

ده زیاته کړه کله چې داود خان کودتا وکړه هغه هم له پخوا نه دچپو نظریاتو په درلودلو مشهور ؤ مثلاً کله چې عدم انسلاک ته تللی ؤ ویل کېدل چې دی دامپریالیزم ضد دی او د شوروي اتحاد طرفدار دی. دده رول ددغه جنبش په جوړولو کې ډېر زیات ؤ او افغانستان شهرت هم پیدا کړ نو په کودتا کې ور سره افسران دچپ اړخ کسان ؤ په کابینه کې یې چپ کسان ډېر ؤ زمور دګوند دیو اړخ کسان یې په کابینه او طرفدارانو کې شامل ؤ (دپرچم ډلې).

غربی نړۍ فکر وکړ چې داود خان چپې خواته لاړ او بیا کله چې داود خان شوروي اتحاد ته وروستي سفر وکړ دشوروي اتحاد غوښتنې یې و نشوې منلې او کله چې راوګرځېد دشوروي اتحاد لارې بیخي پرېښوده دمسکو دهوائي ډګر خدای په امانې یې له روسیې سره دتل له پاره دخدای په امانې وه. کله چې راغی ددولت تصفیه یې عملي کړه هغه کسان چې دده له نظره دخلک دموکراتیک ګوند یوه اړخ ته منسوب ؤ هغه یې ټول لیرې کړل. دده په کودتا کې یوځه وشول هغه دا چې زمور ګوند پخوا پوځ ته لاره نه درلوده او قانوني حق مو هم نه درلوده خو کله چې داود خان راغی نو داردو غړی په رهبري کې شول او مور ته هم لاره خلاصه شوه او دواړو ډلو په کې کار شروع کړ ماپه خپله لیدل چې دخلقیانو په برخه کې دامین تر مشرۍ لاندې ډېر کار کېده. حقیقت دادی چې داود خان پوهېده چې دوي په پوځ کې کار کوي داڅکه چې د پرچم او خلق ډلو نظریات داسې ؤ چې یوبل به یې رسوا کول ویل به یې چې دا خلقیانو جذب کړي او دا پرچمیانو جذب کړیدی په دې ډول په پوځ کې زمور کار پېل شو او داود پوهېده هم.

تاسې ته خو ستاسې ددې وسله وال پاڅون له املې جوړ تیار دنظام او دولتي اداري، بانکونه او دفترونه درپاتې شول نو ولې مو په داسې یو ودان وطن کې انساني هدفونه

ببرک شینواري

ابرار مهرګن

عبدالرشید وزیری

عملي نه کړای شول؟

ببرک شینواري وویل: له دې کار سره خو داخلي او بهرني دواړه اړخونه اړه لري چې باید مور بریالی شوی واي او اوسنی حالت نه واي رامنځ ته شوی. یو علت داؤ چې دخلک اوپرچم ترمنځ ښه وحدت نه ؤ شوي. داوحدت دچوکیو په سر ؤ که څه هم پاس خلکو به ویل چې مور دګډې بیروی سیاسي غړی یو خو نورو یعنې مور لاندې کسانو به هماغه پخوانۍ کنځلې کولې. دیوبل پرضد ؤ. یوبل ته به مو یوه ورځ ښه او بله ورځ به مو ورته بدرد ویل. دادګوند بې نظمي وه. بله داچې زمور په شاوخوا منطقوي ګاونډیو هېوادو کې داسې حال راغی چې له مور سره یې که څه هم سرحد درلود خورابطوی سرحد نه ؤ. که څه هم شوروي اتحاد زمور ترشا ولاړ ؤ خو ایران اوپاکستان له هره پلوه زمور په چارو کې په مداخله کولو سره ښه وارد ؤ. دریمه داوه چې دګوند په داخل کې سخت مخالفتونه ؤ یوه بله تباه کوونکې خبره چې مور یې راکاږلی شو هغه داوه چې شوروي اتحاد د «خلق اوپرچم» په ګوندونو کې طرف نېوه. اودی طرف ته هم عکس العمل ایجادېده. دی عکس العمل زمور ګوند توپه، توپه کړ. مور دا اشتباه هم وکړه چې په ولس مو تکیه ونکړه لومړی مو په ګوند او وسله وال پوځ تکیه وکړه.

بل اساسي دلیل داهم ؤ چې: دا وسله وال قیام دخلکو وسله وال قیام نه ؤ دا پوځ وسله وال قیام ؤ له دې خاطره مونږ باید ټولې اداري نه واي بدلې کړې خو مور ټولو اداروته داسې تغییر ورکړ چې له علاقه دار نه ترجمهور رئیس پورې چې اجرائیوي چوکۍ وي هغه مو په یوه ورځ کې بدلې کړې. هغه څوکۍ چې تخنیکي وي هغوی ته مو هم بدلون ورکړ دې کار ښه نتیجه ورنکړه مور باید دتجربې له مخې له ولس سره ښه سلوک کړې وای. زمور ګوند په دغه وخت کې ۱۴ کلن ګوند ؤ په دې کې ډېر کم خلک وو چې په ۱۸ کلنۍ کې دګوند غړی شوی وو. دشپږم صنف ۱۲ کلن او ۱۳ کلن متعلمین چې دګوند غړی ؤ سمدستي علاقه دار او یا ولسوال شو. له وزارت نه هم په انقلاب کې دعلاقه دار، ولسوال وظیفه مهمه ده چې له خلکو سره سم سلوک وکړي چې هغه جذب کړي دې اداري برخورد هم زمور انقلاب ته سخته ضربه ورکړه.

ددې ترڅنګ زمور له پاره دشوروي اتحاد طرف نیولو هم تاوان ورساوه وروسته معلومه شوه چې په کابل کې دشوروی اتحاد سفارت دانقلاب له پاره دهغوي په اصطلاح داصولي کېدو او زمور له پاره دتخریبي کېدو دسلګونو قوماندو په محل بدل شو.

متأسفانه چې تره کي او امین هم ونشو کړای چې کریملین قانع کړي چې داسې خبره نه ده لکه دا تاسې چې وایاست. که یې قانع کړی وای نو دابدبختی نه راتله. له هغوی سره یې هم دوستی کړه او هم مخالفت. داهغه سیاست ؤ چې دوی په دیپلوماسۍ کې ښه وارد نه وو. دثور دوسله وال پاڅون دپاتي راتلو له پاره یو عامل دشوروي اتحال له پاره دامین شخصیت ؤ.

له امین سره خلقیانو هم مخالفت درلود خو دثور وسله وال قیام له املې دی دګوند دسیاسي بیرو غړي او منشي شو کله چې دپرچم ډلې مشران دپرله پسې کودتائي اقدام له املې له هېواد نه بهر ته تلو ته اړ شول نو په ګوند کې تشنج لا رامنځ ته شو او دوحدت بنسټ هم له منځه ولاړ او جامعه کې خویې څکه تاثیر کاوه چې همدې ګوند دسیاسي قدرت واګې په لاس کې درلودې.

ببرک شینواری زیاتوی: که څه هم ولس سترګې په لار ؤ چې مور ته به کار، ډوډۍ، کالی، سوله او آرامي رامنځ ته کوي. له دې حالت یادپرچمیانو له اخراج نه وروسته قدرت یواځې دخلقیانو په لاس کې پاتې شو. هر مشکل او مسوولیت چې تردې وروسته راتلو هغه په پرچمیانو نه بلکه په خلقیانو پورې اړه درلوده. داچې قدرت په تنهایی سره خلقیانو ته پاتې شو نو اشتباهات هم زیات شول. خلک په ګوند کې مصروف شول. امین هم تغییرات په توندۍ او دولت کې په آنی توګه راوستل اودخپل شخصیت له پاره هم همداسې ؤ چې په لږ وخت کې له وزارت نه صدارت او تر جمهوري ریاسته ورسېد. یوه مهمه خبره داهم شوه چې له قدرت نه دامین دراغورځول کېدو هڅه پېل شوه. دې کار په ولس او وسله وال قیام باندې اغیزه درلوده.

که څه هم کله چې سیاسي قدرت په لاس کې واخستل شي نو هغه باید له ملت سره شریک شي. خودا کار له دې وسله وال پاڅون نه کې پخوا زمور ټول ګوند هم له منځه تللی واي کېدای شي چې په ملت کې کوم بدلون نه واي راغلی خو اوس که ګوند ورانېدو یا جوړېدو نو ملت هم ور سره وزانېدو او جوړېدو. ځکه چې دسیاسي قدرت په اخستلو مو له ملت سره سرنوشت وټول شو. نو سیاسی اداری چارو، دروسی مداخله او ددې ترڅنګ پاکستانیانو هم له حالا تو نه داسې ګټه واخسته چې دوی کسان وسله وال کوي داخبره بابرهم کړي ده چې بابر وبلي چې مور دامداخلې دد اودله وخت نه پیل کړي وي. او مور متأسفانه چې له ایران سره مو هم ښه مناسبات جوړ نکړای شول علت داو چې مور ددیپلوماسۍ له احساساتي حالت نه استفاده کوله نه له حقیقی حالت څخه. داچې په ایران کې هم انقلاب شوی ؤ هغوي هم له احساساتي حالت نه استفاده کوله نه له حقیقي حالت نه.

زمور دګوند دعوه داوه چې دهرات په مسأله کې مستقیماً دایرانیانو لاس ؤ. تره کي په همدې ورځ په پټه مسکو ته لاړ او په جدی توګه له روسانو نه دمرستې غوښتنه کوي چې تاسې پوځي کومک راسره وکړی خو روسان داکار نه کوي. دوي داهم غوښتل چې پوځي مرسته وغواړي او هم وپوهېږي دافغانستان دانقلاب او دایران دانقلاب په هکله دروس نظریات څه ډول دی که څه هم روسانو زمور په پرتله له ایران نه ډېره دفاع کوله. په همدغه وخت کې بریژنف یوه مرکه وکړه چې زمور دولت ئې په ځای کېناوه. بریژنف وویل: «چې له عمومي دوهم جنګ نه وروسته ستره مسأله دایران دانقلاب خبره ده». امین او تره کي چې دا خبره واوربده وپوهېدل چې ددې خبرې تأثیر افغانستان ته راتلونکی دي او زمور پاڅون یې دومره مهم نه ګاڼه نو کله چې امین قدرت ونیوه دافغانستان فضا د داود دوخت په څېر بدله شوه خو امین غلطی وکړه. په دغه وخت کې زه په پولند کې وم هلته له مانه داوپوښتل شول چې آیا امین به دظاهرشاه اوداود په شان له نړۍ سره روابط وساتي کې ځنګه نو دهمدغه تشویش له املې روسان افغانستان ته راغلل.

ورپسې دګردي با توضیحی ناستې په بهیر کې له ابرار مهرګن څخه وپوښتل شول چې: امین او تره کی یا یو څه نور کسان خوله منځه ولاړل پرچمیانو ته بشپړ حزب ورپاتې شو. ببرک کارمل چې کله دوهم او کله لومړي شخص ؤ ولې نې و نشو کړای چې دمملکت چارې سمې کړي؟

ابرار مهرګن دیوې تبصرې په ترڅ کې وائي:

دثور په اومه چې دکابل په ښار او ځینو ولایتونو کې ډزه ډوزه روانه وه دافغانستان دخلک دموکراتیک ګوند په نظامي برخه کې «خلقي ملګروته» مسأله څرګنده وه او حالات «پرچمیانو ته» معلوم نه ؤ. علت هم داؤ چې دوي په پوځ کې وحدت نه درلود. او په عمومي ډول دماتې یواځینی علت هم دوحدت نشتوالي ؤ. دثور په اوله تر دې وخته لا داود خان ژوندی ؤ ددې ورځې تر دوو بجو پرې پرچمیانو له دې حرکت سره یووالي نه ؤ اعلان کړی، کارمل بهلې طرحې درلودې یوه داوه چې: «وروره زمور ګوند ډېر ځوان دي، ۱۴ کلن دي دېو بې وخته ماشوم په څېر په مور

پاتې ۴مخ

نقش وسایل ارتباط همگانی در پیوند با رخدادهای دو دهه اخیر در افغانستان

الپتگین

درسال ۱۹۹٤ وقتی وسایل ارتباط همگانی ایالات متحده امریکا، حادثه انفجار ساختمانی در شهر اوکلاهما راکه صدهاتن کشته و زخمی داشت به مسلمانان نسبت دادند؛ امریکاییان خشمگین ازین پیشامد محلات مسکونی مسلمانان را در آن کشور به سنك بستند دروپنجره ها را شکستند و با استفاده از رهنماهای تیلفون به نشانی عرب ها و مسلمانان ناسزا گفتند. ساعاتی پس از وقوع حادثه، پخش خبر دستگیری یك تبعهء اردنی در میدان هوایی لندن به اتهام انفجاریم اوکولاهما، اوضاع متشنج رادر مواردی تاحدبرخوردهای خیابانی و جنگ های تن به تن بامسلمانان کشانید.

هفتادوچهار ساعت بعد، وقتی «میك میینی» سرخپوست از شاخهء ضد سفید پوستان امریکا مسئولیت انفجار رابه عهده گرفت واعتراف کرد؛ آب سردی روی احساسات امریکاییان خشمگین و افروخته علیه مسلمانان ریخته شد. وسایل ارتباط همگانی که عامل بروز تشنج و خشونت شده بودند، اکنون بایستی افکارعامه رابه پوزش طلبی ازمسلمانان بسیج میکردند.

همانطوریکه وسایل ارتباط همگانی، جامعه بشری را در داعیه تفاهم، برادری وباهمی، صلح و ثبات همزیستی مسالمت آمیز، برچیدن فضای عدم اعتماد و ترس وجلوگیری از تصادمات، شرارت، ووقوع مظالم شدید کمك نموده است؛ گاهی با استفاده از نفوذ و تأثیر خویش به روی افکار عامه، عمدی یا ناشیانه، جوامعی را تامرزهای سراسیمگی، آشوب، تشنج وحتی خشونت کشانیده است.

باتأسف درپی اوضاع آشفتهء کشورما- طی بالاتر از دودهه، بعد تشنج زایی وسایل ارتباط همگانی بر بعد تشنج زدایی آن، دانسته ویا نا دانسته که از هردوحالت به دور نبوده است؛ چربش بیشتر داشته است چنانچه ازصدویك مثال ومصداقی که در زمینه داریم نزدیکترین آن حوادث ماه می ۱۹۹۷ شهر مزار شریف و پیامد های ناگوار بعدي آن در اگست ۱۹۹۸ است.

درتنگاتنگی همین مثال: عنوان نمودن فقیرنشین ترین محلهء این شهر سیدآباد، به حیث نقطهء خیزش در پیوند باحوادث همان سال به خاطر بهره گیری های سیاسی سالاران جنگ در شکل خبر، گزارش و مصاحبه، سرنوشت شوم و خونینی برای باشنده گان آن محله به زبان وبه قلم رقم زده شد.

گسترده گی و ثقلت فاجعه یکسال بعد، طوریکه انتظار میرفت، درسیمای جنگجویان فاتح ولبریز از انتقام که در آن شهریك نقطهء و آنهم «سیدآباد» رامی جستند، ظاهرگشت.

دریك دسته بندی از وسایل ارتباط همگانی کشور، و آنهم در پیوند با رخدادهای بیشتر از دو دهه اخیر افغانستان برمی خوریم به:

وسایل ارتباط همگانی داخلی؛ که همواره ودر هرزمانی سخنگوی حاکمان وقت بوده و به طور یکجانبه راست و دروغ های آنان رابه خورد مردم داده است.

وسایل ارتباط همگانی کشورهاییکه، برهنه جانب یکی ازجناح های درگیر در منازعه کشورمارا داشته و به نفع همان جناح راست و دروغ پراگنده اند.

وسایل ارتباط همگانی که ظاهراً راست گفتند و در این راست همواره مصلحت ومنافع کشور هایشان (چنانچه درجنگ خلیج دیدیم) برمنافع مردم افغانستان رجحان داشته است. متأسفانه باور عامه هم بیشتر متوجه همین دستهء سومی بوده است که هر آن دم از بیطرفی وبیغرضی وراست گویی و درست گویی زده اند. «راست مصلحت آمیز» این دسته بر تشدید تشنج و خشونت بیشتر اثر داشته است تا «دروغ فتنه انگیز» دسته های دومی و اولی؛ که اعتبار شان محدود میشد و منحصر می ماند به باورهای یك جانب منازعه. شنونده، خواننده و خواهندهء آن بیشتر «خودی ها» بودند و «هواداران خودی ها» تا عامهء مردم.

واکنون نیز درحالیکه کشور ما با انبوهی از دردها، گره ها و نابسامانی های ناشی از تداوم جنگ ها روبروست وسایل ارتباط همگانی باپیشگیری شیوه های مردود «اطلاع زدایی» در برابر هزاران مشکل، فقر، بیکاری، بیماری، آواره گی و ازهم پاشیدگی های زیر بناها و نظام های اقتصادی، آموزشی و خدمات عامه یاخاموش اند ویاکمترمی پردازند و آنچنانیکه بایستی افکار عامه جهانی را برای رسیده گی وهمیاری به مردم و کشور مابسیج کنند و تکانه ی باشند برای وجدان بشری و عاطفه جهانی- در حد «مصلحت» ساکت اند. گو اینکه گردانندهء گان این وسایل در ته چتر دموکراسی و آزادی بیان، وظیفه دارند، «خشت» بمالند، اجازه و حق «پوفیدن ابر» با آن بالا هاست.

درنتیجه رخداد ها وواقعیت های تلخ، ربعی از قرن خوشبختانه مردم ما به این یقین رسیده اند که هرسیاه نامهء راست نمی گوید و هربلند گویی صادق نیست.« چیزی که درخط است.» ویا«رادیوگفت» واژه هایی اند که زمانی از باور های خوش مردم ما سرچشمه می گرفت جزء تاریخ شده است. دیگر «زهر راقند» نخواهند انگاشت.

#####

دثور کودتا که وسله وال پاځون؟

دالویه تحمیل شوه ځما طرح داده چې عوام پرمور اعتماد نه کوي. زمور ګوند په ولس کې په بې دینو مشهور دی، په ملحدانو مشهور دی، په بې خدایانو مشهور دي دګوند غړي له سیاسي پلوه هم پاخه نه دي. په اجتماعي لحاظ هم نه دي رسېدلي راځي چې دا انقلاب دحزب دموکراتیک خلق په نامه اعلان نه کړو، داود خان مه وژنې، یواځې وزیران ترې لیرې کړي یوه انقلابي شورا جوړه کړي داود خان په ګډون، هغه مه وژنې خلک پرې راټولیږي، خلکو منلی، غربي نړۍ دسیمي ارتجاع او عربي ارتجاع زمور په وړاندې یو موټي شوي، مور ته موانع او تکالیف ایجادوی».

دکارمل خبره چاونه منله اود ثور پاځون اعلان شو. کله چې بیا له هېواد نه بهر کړای شو او بهرته دجدي په شپږمه روسان افغانستان ته راغلل لکه څنګه چې شېنواري صاحب هم ووېل چې ترې کې دهرات له پېښې وروسته څو ځلې له مسکونه دپوځي مرستې تیلفوني غوښتنه وکړه اوبیا بې روس ته پټ سفر وکړ خو چاپې خبره ونه منله حالت داسې شو چې دګوند په دننه کې دخلقیانو ترمنځ اختلاف پیدا شو دتره کي پلویانو ته بې کنجکیان اودانوروته یې سره انقلابیان وېل دادامین پلویان ؤ. دلته ؤ چې ګوند په رقابتونو بدل شو داخبرې ددوی ترمنځ دخلقي انقلاب اوملي دموکراتیک انقلاب پر اساس رامنځ ته شوی په روسیه کې هم بربژنف په یوه لاره روان ؤ او نور یې په بله. دتاریخ په اوږدو کې زمور دوستانو یاله اخلاص اویا هم زمور له مجبوریت نه ګټې اخستې یعني روسانو هم همداکار وکړ. روسان دجدي له شپږمې یادامین ترمړه کېدو ۲۲ ورځې دمخه افغانستان ته را داخل شوي ؤ. کارمل په هر حالت چې ؤ افغانستان ته راغې ځپني واني چې دجدي له شپږمې نه ۱۵ ورځې دمخه دبګرام هوائي ډګر کې ؤ. دکارمل تر راتګه پورې دخلقیانو او پرچمیانو ترمنځ کړکېچ همغسې ؤ. دپرچمیانو دسرسپي په روانې لحاظ مربعنان ؤ په خارج کې بې زجر لېدلې ؤ په دغه وخت کې دولت دخلقیانو له خوا دپوځ په وسیله اداره کېده نو کارمل له سیاسي لحاظه په وران او وېجاړ وطن کې راغې پوځي او دځارندوي قوتونه دا ټول دخلقیانو سره وه. زمور ټولنه یوه وروسته پاتې ټولنه ده. مذهبي ټولنه ده. مور مسلمانان یو لکه شېنواري صاحب چې ووېل دګوند موسسه کنګره دادم خان ځائې له خوا دملاعبسې کارګر په کور کې داسې جوړه شوه چې ملا عبسې کارګر لومړي دوه رکعته نفل لمونځ وکړ بیا بې کنګره په بسم الله الرحمن الرحیم پېل کړه.

دکارمل دبیا راتګ په باب به ووایم: کله چې کارمل راغې روسان ور سره راغلل خلکو داخبره ونه زغمله زمور په وطن کې له ډېرو پخوا زمانو نه وېل شوي ؤ چې روسان بې کتابه خلک دی. روسانو دا دوهم ځل و. چې زمور پر خاوره تعرض کړي ؤ. کله چې روسان راغلل خلکو ور سره پخواني حساسیت درلود که انګریزان راغلل هغوي هم و شړل شول خوداور سره وېل کېدل چې انګرېزان کتاب لري او نکاح ور سره روا ده لیکن له روس نه به ځان ساتی چې دابي کتابه خلک دي نو ځکه له دوي نه نورو خواوو ته خلک وتښتېدل.

کارمل له څو ستونزو سره مخامخ ؤ لکه: دګوند په داخل کې ستونزې «له خلقیانو سره مشکلات» وروسته بیا دپرچمیانو داخلي نفاق، دمملکت په اداره کې ستونزې تردې حده چې دیوه قوماندان په مقرری به سروري بو فرمان او کارمل به بل فرمان ورکاوه.

دمهرګن نه وپوښتل شول چې کارمل خو پوه او معتدل سړي ؤ، افراطي کسان باله مخې نه ایستل شوي وه یا بندیان شوي ؤ دوي هماغه دجدي له شپږمې نه مخکې پالیسي دوه برابره کړه داوضعه ولې نورماله نه شوه که پخوا یواځې خلقیانو پر هوه ځای حمله کوله اوس خو روسان هم ور سره وو دوي ولې کار و نشو کړای؟

ده وویل: زه له دې خبرې سره اتفاق کوم. دکارمل پرضد احساسات سخت راپاربدلي وو. دخلقیانو او پرچمیانو ترمنځ کلک تضاد او تکر موجود ؤ هېڅ پخلاینه تر آخره ددوي ترمنځ و نشوه په ظاهره بو څه خبرې کېدلې خو په عمل کې هېڅ نه ؤ. بل دروسانو راتګ ؤ دا کار مخکې شوي ؤ هېڅ شی پټ نه ؤ ځینې خلک عملاً مسلح شوي وو. یواځې دخلقیانو ځلورو تنو ور سره بیعت کړي ؤ نور اختلاف هماغسې روان ؤ دچارو ابتکار دروسانو په لاس کې ؤ په ټولو خبرو به مخکې تردې چې عملي شي له مشاورینو سره به پرې مشوره کېدله له بله پلوه زمور دپرچم دبرخې ۲۵۰۰ تنه کدرونه پوه او مسلکي کسان دخلقیانو له خوا وژل شوي وو. (دببرک شېنواري مداخله: تاسې به له دغه شمېر نه دلسو کسانو با یوه تن نوم واخلی؟ مهرګن: په ستر ګو لیکلي به بې درته درکړم) نو ځکه کارمل ته مشکلات ؤ پرچمي کدرونه نه وو دخلقیانو بو شمېر هم فرار وکړ هغه چې پاتې ؤ هغوي عملاً مخالفت کاوه. هغوي داوبره هم درلوده چې مور څوک لېرې ته کړي وبرېدل له پرچمیانو سره طاقت نه ؤ. په سیمه کې هم دروسانو مخالف طاقتونه راټول شوي ؤ عملاً پایګاوې جوړې کړې وې چې داد پاکستان او ایران له خاورونه رهبري کېدلې دولت له څو منظمو جبهو سره مخامخ ؤ. البته په سیاسي، نظامي او اجتماعي ساحو کې داکار کېده.

مثلاً: دهغه وخت مجاهدین چې اشرار ورته ویل کېدل یوه جبهه پخپله دخلقیانو او پرچمیانو داختلاف جبهات، بل په داخل کې دیو شمېر مختلفو حساسیتونو راپیدا کېدل البته دروسانو له راتګ سره سم. دغه دري مهمې جبهې وې چې کارمل ټې له کړاو سره مخ کړې ؤ هغه په بواځې صورت سره نه شو کولې ترڅو چې ګوندور سره په ریښتیا ملاتړنه واي کړي.

ورپسې له باغلي عبدالرشهد وزیري نه وپوښتل شول کله چې: ډاکتر نجیب الله ملي روغه جوړه، اعلان کړه، روسان هم له افغانستان نه ووتل په دغه شان حالت کې بیا ده څه کار و نشو کړای که څه هم دګوند نوم یې بدل کړ نو دډاکتر نجیب یادوطن ګوند هلوځلو ولې نتیجه ورنکړه؟

عبدالرشهد وزیري دېوې مقدمې په ترڅ کې ووېل: که مور دملي روغې جوړې په ناکامیو غږیږو نو تر هغې دمخه ناکامیانې هم دځنځیر دکړې په څېر ور سره ترلی دی. ځما په فکر مور باید ډېرو مسایلو ته پاملرنه کړي واي افغانستان دمرکزي آسیا زړه دي. په څلور لارې کې واقع دی. په تاریخ کې ۲٤ داسې جریانونه تېر شوي چې دلته پردیو ځان ته امپراتوری جوړ کړی او محلي یاملي قوتونه یې له منځه وړی دي. دهغوی حاکمیت یې سلب کړیدی تاریخ دا مسایل ټول خوندې کړیدي چې وروستي راتګ دروسانو دی.

کله چې امریکې په ۱۹۷۰م کال کې داسلامیک کلب په نوم یو بنسټ کښېنود په دغه کار کې فرانسه،

باقي ۵ مخ

از مرحوم عبدالرحمان «پژواك»

ای خاك وطن!!

دي پير مغان چون نظري جانب ما كرد
هر درد كه دل داشت به يك جرعه دوا كرد
نازيم به خود حادثه گر نيك بسر شد
گر نيك نشد، كار قدر بود و قضا كرد
كرديم فراموش خدا را و زغفلت
بر خويش ستم كرده و گفتيم خدا كرد
از جان نگذشتيم و گذشتيم زميهن
حرفيست كه ما را ز وطن روس جلا كرد
اي خاك وطن چشم مرا كرد زمان باز
زان غفلت ننگين كه مرا از تو جدا كرد
جاني كه بما دادي اگر بهر تو ندهيم
در زندگي كس حق تو نتوان ادا كرد
پيوست به حق آنكه در آغوش تو جان داد
آواره و نوميد اگر زيست خطا كرد
نازم به ديداري كه در آن طفل و زن ومرد
در روز غزا كرد و شبانگاه عزا كرد
برخاك وطن باز كنم سجده شكري
گر خواست خدا باز واگر عمر وفا كرد
مرديم گر آواره و نوميد نناليم
گر هموطني وقت دعا ياد زما كرد
دور از وطن آن شبنم خونم كه دل شب
چون اشك فرود آمد و چون آه هوا كرد
«پژواك» به آنكس كه جوان بود و نجنگيد
صد طعنه بدل زد بزبان گرچه حيا كرد

دشعر او ادب گل پانې

خپلداا پيښه

«متين خورياني

دادهجر اورده شپه زمور سبا كړي — تر ورمې مو نور بدله په رڼا كړي
په هر كور كې دې ويرونه اوغمونه — ژړاگاني مو بدلې په خندا كړي
چې له مور نه يې دزړه توتې جلا كړي — دهغوی ځنې دزړه توتې صلا كړي
چې يې مونږ ه دبلا په خوا له كې ورکړو — پاكه خدايه ته نازله پرې بلا كړي
چې روانه ناروا په خپل ځيل وايي — لږ يې ستر گه دتميز خدايه بينا كړي
ستا په درگې د «متين» دغه دوعا ده — ژر قبوله زما ربه دا دوعا كړي

دالفت څلوريځې

هغه وينم چې يې نور نشي ليدلي — كه رښيا نشي ويلئ اوسه غلی
هغه وايم چې يې نور نشی ويلي — دروغ مه وايه كه ځان ګنې ښاغلی
دلته څوک دحال په ژبه نه پوهيږي — آس يې مه بوله براق ورته مه وايه
زه په ژبه دمال يم غږ بدلی — بې لکی خره ته كه خر نشي ويلی

(...چنگ غربت)

نگاهم تند شلاقيست
اندر چنگ غربت با فراز آن
نشسته شانه هايم را سيه ماران تا پازهر
وجودم ميزبان جبر
درون كوچه هاي استخوانم درد مي گردد
نگاهم تند شلاقيست،
تا حلقه زندگردش،
دو تايم مي زند قامت
دوتايم زندگي، اي دوست!
الا اي دوست!-
آن دست حضوري «كو؟» كه اين شلاق بستاند
زچنگ وحشي غربت
كه تا ديگر نباشد شانه هايم« لانه ی ماران»!

داوود «چكري»

ازمن سخن بگو

نادیه فضل

وقتی که لحظه های محبت
دست ترا به دامن خورشید می نهاد
وقتی که عطر مهر
راه ترا به زورق سیمین ماهتاب
سوی دیار جادوئی عشق می گشاد
ازمن سخن بگو
ازمن که شهرمن
خاموش وبی صداست
ازمن که خانه ام
تاریك ودردزاست

دثور كودتا كه وسله وال پاځون؟

امريكا، مصر، سوډان، ايران او مراكش شامل ؤ وروسته بيا بوڅه نور هيوادونه هم شامل شول. ددوي په اجنداكې له روس نه دانتقام اخستل شامل ؤ. داسند مصري ژورنالست حسنين هيكل دابران پاچا له سقوط نه وروسته له ايراني منابعو نه تر لاسه اوخپور كړ. بيا تر دې وروسته اسلامي نړۍ دروس پرضد راپارول كېږي اوددي كار له پاره ډېره كمزوری دروازه افغانستان ؤ نو په ۱۹۷۵ م كال كې نصيربابر ۵۰۰۰ كسان دلته په پاكستان كې وروزل داوو تنظيمونو مشران په كې وروزل شول او افغانستان ته د ۱۳۵٤ كال داسد په ميا شت كې ننوتل ۳۱ ولسوالی او علاقه داری يې ونيولې.

دوي له پاكستان نه افغانستان ته دوضعي دبې ثباتی له پاره ورغلی ؤ چې دداود خان رژيم راوغورځوي. بابر چې دضبا الحق په وخت كې بنديؤ نو دوي پښتونخوا يوه مشر ته ويلی وه چې مور نقشه درلوده كله چې داود له منځنی ختيځ نه راوگرځي او پاكستان ته راشي او كله چې بې الوتكه دافغانستان له سرحد نه تېريږي نو مور به بې الوتكه ډډ يورند له كرښې نه اخوا راغورځوو او وژنو به ئې او په دې ډول به په افغانستان كې بې ثباتي ايجادوو هغه په هوه بله مركه كې وائی چې مور غوښتل دكمونيزم مخه دامو درباب په غاړه ونيسو په افغانستان كې بې ثباتی ايجاد كړو او بنياد گرائي په كې حاكمه كړو.

ځما نظر دادی چې داهوه لوبه لوبه وه او په دې كې افغانان واخستل شول، افغانان وروزل شول او استعمال شول. دا ځكه چې دا يشپا جنگ ابشيابې شو او دامريكا له پاره نماينده ايجنټان هم افغانان شول داؤ دپلان هو اړخ چې روسان افغانستان ته رانوغي. روسان دې كار ته چا راكش كړل. روسانو دافغانسان په هكله مطالعه نه درلوده دافغانستان دخلك دموكراتيك گوند دقدرت اخستلو ته آمادگی نه درلوده زمور ليډرانو دافغانستان په هكله هو وروكی پامپلټ هم نه دی ليكلی چې دهغه طبقاتی، سياسي او اجتماعي اړخونه وڅېړي چې اوسنی حالات دا او بعدي اجراات به مو داوي. دثور په پېښې سره بايد مور قدرت دملي دموكراتيكي جبهې له لاري تر لاسه كړي واي تول قوتونه بايد په كې شريك كړاي شوي واي.

له انقلاب نه مو انحراف وكړ كوم سياسي قوتونه چې بايد له مور سره تللي واي هغه مو ووهل. وه مو وژل او زندانونو ته مو واچول.

كله چې مور دځمكي داصلاحاتو پروگرام وركړ هغه هم داسې چې دقبيلو په وطن كې په قبايلو كې خلك په ځمكه يوبل وژني يا ځمكه ده يا ښځه وه او يا وسله ده. مور له خلكو نه ځمكه واخسته دغه اصلاحات ډېر افراطي او راډيكال وو ډېر غير متناسب او غير منطقی وو.

دغې اصلاحاتو زمور طبيعي دوستان چې په همدې انقلاب كې بې زمور ملاتړ كاوه دثور انقلاب يې په بې نظيره توگه استقبال كړي ؤ له مور نه ليرې كړل او هغوي ته بې بو شوک وركړ. هغه يې اړ كړل چې غرونو ته وخېژی. بوه بله خبر داده چې تاسې خوپه افغانستان كې دچپو ډلو باندونه وكړه خودامو هېره كړې وه چې د اسلامي گوندونو وروڼو هم سر راپورته كړي ؤ ډېر قوي نهضت ؤ په داود خان يې څو ځله كود تاوكړه دوي دوروڼو با اخوانيانو، يا جنبش جوانان مسلمان افغانستان په نامه موجود وو. په خلكو كې يې ولې اوريښې درلودې دوي جوماتونو ته لاړل خلكو ته لاړل عملاً يې داسې گردار اداكړ چې په آينده كې يو عمل وكړي.

له بله پلوه روسان راغلل دې كار ته دثور انقلاب بشپړ تيائې پراو وويل شو معنې يې داوه چې لومړی خو مو سوسيالېزم جوړ كړي ؤ اوس مو دادي كمونيزم راووست آبا دقبيلو په وطن كې داكار سم و، بايد په دغو دواړو برخو كې لويه جرگه راغوښتل شوي واي. آبا مور دافغانستان دخلكو ارادې ته وكتل كه نه، مور نه بوائې دهغوي ارادې ته ونه كتل بلكه دامو هم ونكړل چې زمور ترمنځ ځيني ملي او ډيموكراتيک گوندونه وو هغه مو بندبخانو ته وليږل. مور دمسكو په شان بو گوند جوړ كړ مور له مسكو نه هرڅه كاپي كړل او روسانو هم مطالعه نه درلوده نه پوهېدل چې داتولنه به څنگه اداره كړو. هغوي دخپلې كمونستي تولنې طرحې راوړی اوزمور ملگرو ته بې ورکړی چې مور هغه په افغانستان كې دتطبق له پاره وراندې كړی. فكر وكړی دقبيلو په وطن كې دشوروي اتحاد له پاره ددوستی ۳۰۰۰ خونې جوړې شوې.

په هغو كې دمار كس، انگلس او لينن عكسونه اېښودل كېدل په دغه وخت كې زمور دهېواد ملی تاريخی قهرمانان له مېروېس خان او احمدخان نه نېولې تر دانورو داڅه شول؟ داماتې خوله همدغه ځايه پيل كړي كوم پروگرام چې مور ورکړ خلكو ته مور دهغه پروگرام په هنداره كې ځان نه ليده او مور تربنه مخ واړاوه. دلته دښمن ورته تيار ناست ؤ هغوی دانقلاب پرضد تربگنی اودښمنی پيل كړه زه خو وايم چې دا انقلاب اصلاً دوی پيل كړ مور نه دی شروع كړی دلته پرې څكه نه غږېږم چې وخت ډېر نيسی.

لنډه داچې ډاكټر نجيب الله رامنځ ته شو دملي روغې جوړې پروگرام يې اعلان كړ او معنې داوه چې مور له هغو تولو اپوزيسيونو چې نظريا تو او پروگرامونو سره الوداع وكړو چې دافغانستان خلكو، سياسي گوندونو او مخالفينو ته دمنلو ور نه وي. مور په دې كار شروع كړه دملي روغې جوړې سياسي ددې څانبه منشأ اخلي چې په ۱۹۸۵ م كال كې زمور درهبری دسياسي بيرو ۹ تنه غړي مسكو ته پټ لاړل گرباچف له دوي سره په مخامخ خبرو كې دا خبره ورته وكړه چې: «مور خپل قوتونه له افغانستان نه باسو تاسې دمستقلې دفاع له پاره ځانونه تيار كړی، اوشپږ ميا شتې وخت لری». كه څه هم زمور په گوند كې زيات كوښښ داو چې روسي پوځونه دې په افغانستان كې پاتې شي چې دغينو كسانو حاكميت دلته خوندي پاتې شي. كارمل له وليخان او اجمل ختيک سره په يوه كتنه كې چې زه هم ور سره ناست وم وويل: «دملي روغې جوړې سياست خو دادي چې دا مخالفين خو راځي آبا مور له گلبدينيانو سره كله تر يوه چتر لاندې كېناستي شو؟» په داسې حال كې چې دملی روغې جوړې سياست خو كومه تگې نه وه. مور خو داوبل چې تول مخالفين وسله وال اپوزيسيون چې هرڅوک وي دوي به راځي او په شربكه به بو پروگرام غوره كوو. چې هغه يو ملی پروگرام وي، ملی حكومت به جوړ كړي او ملي وحدت به تأمينوي سوله به راشي او دوطن دبيا رغاونې له پاره به اقدامات وكړي. داله افغانستان نه وتلی مهاجرين به بېرته راشي او په تېرو زخمونو به دملهمو پتې كېښودل شي.

مور داسباست په عمل كې پلی كړ تول هغه اقدامات مو تر سره كول چې مور پوهېدو چې زمور مخالفين ورته داعتراض گوته

باتې په ٦ مخ كې

په افغانستان کې :

په قدرت جنګ دي که د قدر تونو . . .

دمشرۍ له پاره په قدرت پسې ګرځي . همدا اسو دنړۍ دزیاتو هېوادونو ددولتونو په رهبرۍ کې داسې کسان شته دي چې قدرت يې په زور نیولي او دساتلو له پاره يې دهیڅا په وژلو او بندي کولو ایله نه ده کړې. دا ډول مشران په عمومي توګه په وروسته پاته هېوادونو کې ډېر دي.

افغانستان هم دهغو هېوادونو له جملې څخه دی چې له آدمه تر دي دمه د قدرت طلبانو د جنګ ډګر دی، په دې هېواد کې د قدرت دلاس ته راوړلو له پاره يې وروړ، ړوند کړای، پلار زوی بندي کړای او زوی پلار وژلای دي.

د کورنۍ دغړو تر مینځه په قدرت جګړو کې سردار داود وروستي شخص وو چې خپل دتره زوی محمد ظاهر شاه يې د قدرت د تر لاسه کولو په خاطر له وطنه وشاړه. خو ددې د قدرت نیولو په موقع په نړۍ کې نوې نخرې پیل شوې وې.

اوس نو قدرت د خپل مټ او بازو په زور نه نیول کېده او نه ساتل کېده، بلکې دبهرنیو حکومتونو ملاتړ يې غوښته، او دا ډول ملاتړ خو وړیا نه وو. مانا دا چې په خپل هېواد کې د قدرت نیول او قدرت ساتل ، په ځان باندې د پردې هېواد د قدرت منلو معامله وه او داود خان ددې معاملې له پاره آماده ګي نه درلوده.

دروسانو تطمیع او تحدید دهغه په ماغزو کې دملي غرور اوخپلواکۍ احساس مړ نه شو کړای، نو ځکه يې له پخواني بیپار (شوروي) سره معامله پرېښودل په سربیللو پای ته ورسېده.

کله چې له داود خان ځخه کمونستانو چې دده پخواني ملګري (پرچمیان) هم په کې شریک ؤ، قدرت ونیوه، قدرت نیولو ډله ییزه بڼه غوره کړه. د خلقیانو ډلې دنور محمد ترکي په مشرۍ وکولای شي چې د پرچمیانو ډله د ببرک کارمل په مشرۍ له قدرته محرومه کړي، ببرک کارمل اوځینې نور کره پرچمیان له هېواده وباسي او نور ګڼ شمېر يې بندیخانو ته وغورځوي، ورپسې په ډلو کې ډلګۍ پیدا شوې اولږه موده وروسته حفیظ الله امین په دي بریالی شو چې د بشپړ قدرت نیولو له پاره د خپل استاذ (نور محمد ترکي) په خولې بالښت کېدي او قدرت ځان ته انتقال کړي.

حفیظ الله امین هم د داود خان په شان دروسانو دغلامۍ په قبلولو کې ناکام شو. روسان خو لا پخوا په دي حقیقت پوه وو او له همدې کبله يې له هېواده بهر پرچمیان دمیلمنو په حیث په خپل دستر خان وساتل او هغه نور يې چې په هېواد کې د ننه په زندانونو کې پراته وو ، له مرګه وژغورل .

څرنګه چې پرچمیانو کې له امین څخه په زوره د قدرت نیولو توان موجود نه وو ، نو روسانو د خپل فوځ په استعمال حفیظ الله امین مړ او قدرت يې خپل منلي استازي ببرک کارمل ته تسلیم کړ.

بالاخره د مجاهدینو د قدرت وخت راورسېده ، افسوس چې د مجاهدینو مشران تر هر چا څخه زیات د قدرت زمانجن وو. دوی هېواد ته تر ننوتلو ترمخه په قدرت لرلو اوار کېښود او چوکۍ ګاني يې سره ووېشلې. مجددي صاحب حتی د دوه میاشتو حکومت هم غنیمت وګانه او د قدرت داوړدولو له پاره يې پخوانیو جاني کمونستانو ته غاړې ورکړې. محترم حضرت صاحب هغه ټولو ته چې د افغانانو په وینو يې لاسونه لاتر اوسه هم سره وو ، د عفو فرمان صادر کړ.

پروفیسور مجددي هېله کوله چې د خپل قدرت دوران له دوه میاشتو اوږد کړي. خو پروفیسور رباني دا زغملای نه شوای.

په پای کې پروفیسر مجددي د احمد شاه مسعود په زور له قدرته وغورځول شو او پروفیسور رباني د قدرت په تخت کښېناست.

خو پروفیسور رباني هم د قدرت دسیمبول په شان استعمال شو، او د قدرت اصلي خاوند انجنیر احمد شاه مسعود وو. انجنیر مسعود د کمونستانو په خلاف، له ډله ییز قدرت سره ضدیت درلوده. هغه غوښتل چې د قدرت د بزکشۍ په لوبه کې دي یواځینۍ غښتلې چاپ انداز همدې وي او د دې له پاره يې ان په خپله ډله کې مستعده او نومور قوماندانانو له ډګره وایستل.

انجنیر صاحب مسعود د قدرت د کامل تصاحب په خاطر د خپلوا ایتلافي متحد ینو په له مینځه وړلو هم ونه بریدو کړ.

د محترم انجنیر حکمتیار او محترم انجنیر مسعود تر مینځه په قدرت جګړه د اسلامي حکومت د جوړېدو په لومړیو ورځ پیل شوه . ورپسې د قدرت په سرجنګونو نوي ابعاد پیدا کړل . هره ورځ د قوتونو پروني اتحاد ونه ورانېده او نوي نوي اتحاد ونه جوړېدل.

د هیڅ چا جهت ګیري روښانه نه وه، هر لوري کې به چې چاته د قدرت پیدا کولو امید پیدا کېده د هماغه لور په طرفداري به جنګېده . نوري نو د اسلام او جهاد خبرې نه وې. د دې په قدرت مینو د جګړو له برکته د مجاهدینو په صفونو کې پرچمیانو او خلقیانو ته هم کار ونه پیدا شول او په نتیجه کې هغه برخه وطن چې له کمونستانو څخه روغ پاتې وو ، د مجاهدینو له خوا وران شو او زرګونه بې ګناه زاړه، واړه ، ښځې ، نارینه افغانان ووژل شول. اوس نو په ارګ کې یو پاچا ، په چار اسیا کې بل او په دریمې کارتې کې لا یو بل اوسېده. برسېره پردې د پاچاهانو ، په مکرو ریانو کې خو د «دوستم» امر چلېده . دې پاچاهانو د یو بل پرمنطقو شپه او ورځ راکټونه او بمونه ورول او په خلکو يې محشر جوړ کړې وو . د پاچا هانو په قدرت باندې خپل مینځي جګړه لا تونده روانه وه چې طالبان راپیدا شول.

طالبانو په خپل مینځ کې سره په جنګ بسیا پاچاهان ، قوماندانانو او انجنیران د کابل له کنډوالو وښکل. طالبانو قدرت نېولو د لومړۍ ځل له پاره ټول په خپل مینځ کې په جګړه بوخت ګروپونه د قدرت د بېرته نیولو له پاره سره یو ځای کړل او د طالبانو مخالفه جبه يې مینځ ته راوړه.

د دې جبهې ګډون کونکي سره له دې چې د طالبانو په مقابل کې په ګډه جنګېدل ، خو په قدرت باندې يې خپل مینځي اختلاف هېڅکله له مینځه ورک نه شو ګرای او شامدام به يې په خپلو کې سره سخت جنګونه کول . د مزار شریف دښار په نیولو باندې جنبش او حزب وحدت تر مینځه جګړې ، وژنې او ورانونې د دې ادعا د ثبوت شاهداني دي.

د طالب ضد ګروپونه یو پر بل پسې د طالبانو په زورمات شول او مشرانو ته يې له ټول ساز او برګ څخه یواځې خولې پاتې شوې چې صرف د بي بي سي او امریکا غږ په درد خوري او بس.

یواځې پروفیسور رباني د انجنیر احمد شاه مسعود له قدرته په استفادې سره ، د افغانستان شمال ختیځ کونج ټینګ کړي او په دې شان د قدرت د اعادې له پاره ، جنګ ته لاتر اوسه دوام ورکوي.

نوربیا

د ثور کودتا که وسله وال پاڅون ؟

نېسي. له همدغه امله دګوند سیاسي بېرو غړیو تصمیم ونیوه چې نوي اقدامات وکړي رهبرۍ کې بدلون راولي. یوه داوه چې لویه جرګه دې وشي، پارلمان دې جوړ شي، د انتخاباتو له پاره دې لاره اواره کړي او د سیاسي پلورالیزم بادګوندونو د تعدد له پاره دې اجازه ورکړل شوی. وسله وال اپوزیسیون ته دمذاکراتو له پاره د عوت ورکړ شو. دژنیو توافقات هم تر سره شول او ګوند تیار شو چې د سیاسي قدرت له انحصار نه انصراف وکړي او په یوه سیاسي ساختار کې به له مخالفینو سره د قضی حل ته لاړ شي. ډاکتر نجیب دغه ټول اقدامات تر سره کړل. داهم وایم چې دې خبرې د ملل متحد پنځه فقریز پلان هم رامنځ ته کړ چې بایه قدرت په مسالمت آمیزه توګه بوې بې طرفه شورا ته منتقل شي، بېطرفه دولت به جوړ شي او وروستۍ اقدامات به بیا وروسته تر سره کړي خو کله چې د قدرت د انتقال وخت راغې نو نه یواځې په دې کار کې وسله وال اپوزیسیون پاتې راغی او بین المللی اړخ بې هم و نشو کړای چې ځه وکړي د اځکه چې د ملي روغې جوړې سیاست خو د بېن سیوان له طرح سره پای ته رسوي.

د ملي روغې جوړې پرځد ځلور کودتاګاني وشوې. اوله کودتا حسن شرق او ګلابزوي ترتیب کړه چې په نتیجه کې دوي له افغانستان نه وکېنل شول. دریمه کودتا د ۱۳۷۰ کال داسد په میاشت کې د کارمل دلې جوړه کړه چې دې کار په مسکو کې د ګرباچف پرځد بغاوت سره تړاو درلود هغوی په مسکو کې ناکام شول نو دلته هم داکودتا ناکامه شوه. که څه هم دوي ډېر زیات بوتلونه مات کړل سخت استقبال بې کاوه. دریمه کودتا د شهنواز تنې کودتاوه او ځلورمه کودتا د ملل متحد د طرحې پر اساس د قدرت دورکولو په وخت کې د نجیب پرځد د دوستم او په شمال کې د تحرکاتو وه چې نجیب بیا د ملګرو ملتونو دفتر ته پناه وړی د دې خبرو اسناد موجود دی. له همدغه امله ډاکتر نجیب یوه اعلامیه ورکوي چې له قدرت نه انصراف کوم په دې وخت کې په شمال کې یو سړي د جنرال مؤمن په نوم د دولت په اوایمه لیوا کې د مخالفت بیرغ پورته کوي چې د جعفر نادری اتهایمه او په شمال کې د دوستم ۵۳ فرقه هم دیو شمېر نورو په ګډون راولاړېږي او مزاری هم ورسره سرخوزوي. د کارمل ډله اوزمور د ګوند یو شمېر غړي کاویاني ، مزدک ، وکېل ، بریالی ، د برهان الدین رباني او مسعود جمعیت اسلامي ورسره لاس بو کوي. حزب وحدت ، سزا ، ، ستم ملی ، ګروه کار او د آزاد بېګ نوي ګوند هم له دغه تاجکي حرکت سره یو کېږي. ازاد بېګ د ملي روغې جوړې د ناکامولو له پاره له بهر نه په ایتالیا کې له یوې کمپنۍ نه ۳۰۰۰۰۰۰ ډالره واخستل او په دې لاره کې يې ووېشل چې ملي روغه جوړه ناکامه کړي. د غه په شمال کې جوړ شوی حرکت د ملي روغې جوړې پروګرام چلنج کړ. روسان هم د ملي روغې جوړې دسیاست مخالف ؤ. ایران ور سره مخالف ؤ فرانس ، پاکستان ، سعودي عربستان او امریکا هم ور سره مخالفت درلود. د اچې دوي ولې مخالف ؤ روسانو خو ویل که په افغانستان کې اسلامي نظام جوړېږي یا د اسې حکومت راشي چې امریکا ته تمایل ولري نو په منځنۍ اسیا کې دوي ته څه نه پاتې کېږي

له وزیري نه وپوښتل شول چې آیا نجیب ریښتیا هم له قدرت نه تېرېدل غوښتل او که يې په دې توګه د راتلونکي مشرتابه نه پاره څان مستحق باله او یا هغه دګوند داخلي اختلافاتو استعفي ته اړ نه کړ آیا هغه څه اشتباهات نه دي کړي؟

ده وویل: نجیب ظاهر خان ته لیکلي دعوت ورکړی ؤ چې افغانستان ته راشي د اپوښتنه باید له هغه نه وکړو چې ولې افغانستان ته نه راتلو . زمور په ګوند او هېواد کې د اسې کسان ؤ چې ملي روغه جوړه يې نه غوښته هغوي د جنګ پلویان ؤ هغوی اقتصادي بازار ته کتل. د اچې نجیب استعفي وکړه زه نه وایم چې ده اشتباهات نه دي کړي زمور ګوند ترنیمائي زیاتو کسانو ور سره موافقه نه درلوده نو ځکه د دې پروسې پرضد بو مخالفت روان ؤ. د شهنواز تنې په کودتا سره د ګوند بو اړخ فلج شو ۱۰۰۰ تنه پوځي افسران له پوځ نه وکېنل شول او ډېره لویه خلاۍ رامنځ ته کړه د دې ترڅنګ نبي عظیمي ، د هواني قواوو قوماندان ، د ګارد قواوو چې ترحیرتانه پورې د لاري امنیت يې په لاس کې ؤ مال او انتقال هم له دوي سره ؤ دوی مخالفت کاوه خلقي اړخ مو بیخي کمزوري کړی ؤ . وهلی مو وو ، د نجیب بوه اشتباه په همدې کې هم وه ما په یوه کتنه کې له ملګري نجیب نه غوښتنه وکړه چې د اپاتي خلقیان باید خپل کړو. د هغوی اعتماد باید تر لاسه کړو که څه هم نجیب وویل چې د اکار به وکړو خو بنایي چې څه مشکلات به يې درلودل. مشکلات د اؤ چې زمور ګوند ، پوځ او خاد ټول د روسي مشاورینو په لاس کې ؤ د هغوي له خوا اداره کېده او ټمویلېده. زمور د رهبرۍ د بر کسان هلته تړلی وو څه به چې هغوی هدایت ورکاوه هغسې به يې کول. د ملي روغې جوړې د تحقق له پاره نه روسي نظامیان او نه K.G.B حاضر ؤ چې هغه عملي شي له بله پلوه امریکا ، ایران او پاکستان هم نه غوښتل نو نجیب په دی ملی اوبین المللی بحراني حالت کې ونشو کړای چې خپل د ملي روغې جوړې پروګرام عملي کړی. ټول موجود اسناد د بهرنیو لاسونو درلودل ثبوتوي. زه بواخیري عرض کړم چې ارشاد احمد له بو امریکایي سفیر نه وپوښتل چې تاسې دروس د مداخلې مخه له دې امله نیسی چې د افغانانو له پاره افغانستان آزاد کړی. هغه ووېل چې زمور او روس ترمنځ شفاهي تعهدات موجود ؤ هغوی زمور د نفوذ پرسیمه تعرض کړیدی نو ځکه پسې راوتلی بو. د غه شان پاکستان هم په افغانستان کې خپل اهداف درلودل ، ایران هم درلودل نو هغوی د خپلو اهدافو د عملي کولو له پاره فعالیت پیل کړ او نن په افغانستان کې بهرنۍ مداخلې دی حد ته رسېدلی چې دادی مور يې په خپلو ستر ګو وینو.

ببرک شینواری: د ملي روغې جوړې کار په زړه پورې ؤ او بدیل يې نه ؤ چې چا وړاندې کړی وای. زمور په تېرو سندونو کې به ویل کېدل چې سپېځلو اهدافو ته په ناولو وسایلو ځانونه نشی رسولی د اځکه چې امکان يې نه ؤ. نجیب تردې د مخه تصفیه ونکړه خو په روس کې ګرباچف تصفیه وکړه هغه د بر بڼ ف د خط کسان ټول له پنبو وغورځول بله روښانه خبره داوه چې په ټول خاد کې یو وزیر بېچاره « یعقوبي » مړ شو دده ټول پروګرام په خاد ولاړ ؤ هغه بنه او د لچسپ ځای نه ؤ. دا بوه مسأله وه چې د دې پروګرام د راتګ له پاره یو اجتماعي قشر جوړ نشو چې مجرې يې خلک وګرځي. ده په ټول پروګرام کې پرخاد باور کاوه او هغه بیا ټول د نجیب پرضد راپاڅېد چې متأسفانه هم پروګرام لاړ او هم دي په ډېر بد سر نوشت اخته شو.

د مېزچلوونکي: له پاغلو ببرک شینواری ، عبدالرشید وزیري او ابرار مهرګن نه مننه.

****

جـــرگـــه هـــای روم وقـــبـــرس

همچنان گروه های دیگر تنظیمی که جنگ ها را ترک گفته و راه اعتدال و مسالمت پیش گرفته و برای احراز مقامات احتمالی درآینده ، امیدواری زیادی دارند ونیز برخی از تنظیم ها که برخلاف آرزو مندی های قلبی ، جاه و مقام ،از صحنه بدر رفته ویا بزور به حاشیه روفته و رانده شده اند.

دوم: زاویه و نقطهٔ نظر رقابت های گوناگون و متعدد سیاسی و اقتصادی منطقوی و جهانی که باعث تولید و خلق اتحادیه های گوناگون ، نظامی، سیاسی ، اقتصادی ، امنیتی و امثال آن گردیده و این پروسه هنوز هم درحال انکشاف و توسعه می باشد وسرداران و تفنگ بدستان حکام داخلی ما به ناحق به آن اتحادیه ها دل خوش کرده اند.

سوم: زاویهٔ کشور های مداخله گر همسایه و غیر همسایه اعم از کشور های دور و نزدیك منطقه و جهان که ما این همه مداخلات وسیع و چند بُعدی را به منزلهٔ تجاوز صریح و جنگ نااعلان شده و تقسیم عملی کشور به مناطق علیحده و تحت نفوذ این بیگانگان ، تلقی می کنیم و به تشکیل ستون های پنجم هریك از یشان در اعماق مناطق کشور خویش گواهی میدهیم.

چهارم:زاویه و چشم انداز فریم ورك های زمانی گذشته، حال و آینده که هر یك در ذات خود دارای اهمیت بسزائی بوده و باعث بوجود آمدن پلان های تخریبی کوتاه و دراز مدت سیاسی و اقتصادی (به ارتباط مسئله افغانستان) در منطقه و جهان می باشد.

پنجم: نقطهٔ نظروزاویهٔ سوابق تکوینی و پیدایشی گروه ها و تنظیم های متعدد جهادی وقوای مقاومت ملی افغانستان منحیث عموم و سابقه تکوینی گروه های متخاطم حالیه و در حال جنگ در افغانستان منحیث خاص و ارزیابی ارتباطات مالی و نظامی ایشان با ممالك مداخله گر ذینفع وذی دخل خاصتاً دو همسایه بزرگ دریدیوار ما.

ناگفته نماند که زوایای دیگر ترصد و تحلیل این قضیه هم موجود است که اقلاً ذکر فهرست آن از حوصلهٔ این مختصر خارج می باشد.

اما قدر مسلم اینست که تأثیر ات ماضیه و گذشته دوره تکوینی و ارتقاعی که در بالا منحیث (سوابق) به آن اشاره شد. اثرات سوء و بنیان براندازی برگروه های جنگی ما داشته و دارد که بعد ازکامیابی مجاهدین و قوای مقاومت افغان ها بر عساکر متجاوز شوروی و پیروان افغان ایشان از یکطرف باعث شروع و آغاز جنگ های بین الافغانی و از سوی دیگر باعث دوام آن در داخل مملکت شد. یعنی جنگیا قطع نه بلکه تغییر شکل داده به نبرد های داخلی و خانگی مبدل شدند.

تا آنجایی که در جهاد مقدس و قیام ملی سرتاسری موفق و کامیاب شدیم به همان اندازه در ساحه سیاست بازنده و ناکام گردیدیم تا حدیکه هنوز هم در درون حلقه و دایره این طلسم سیاسی سرگردان می باشیم.

یکی از متفکرین سیاسی گفته است: « گذشته ها هرگز نمی میرند».

سخن به درازا کشید، اعضای جرگه های روم و قبرس که عنوان این عرایض می باشند به اعتبار مشمولین گرامی آن جلسات که برادران و عزیزان ما هستند و هریك مورد احترام ما قرار دارند، خواهی نخواهی تا امروز که امروز است نیز در حلقه و دایره این طلسم و جادوی سیاسی، درگیر هستند و متاسفانه نه توانسته اند چنانچه شاید، خود را ازین جادوی سیاسی خلاصی بخشند لذا در پیشگاه ملت و تاریخ افغانستان مسوولیت عظیمی را بر دوش خواهند کشید و معاف نخواهند شد . بلکه مسوولیت های ملی ایشان که خود را سیاستمداران و خبره گان و تعلیم یافتگان و ... می خوانند، به مراتب بیشتر از عوام الناس خواهد بود چه جنبه های احتمالی تعمیری و خدای ناخواسته تخریبی ایشان نیز بیش و بیشتر می باشد.

واقعات و حادثات (۲۵) سال گذشته کشور که همه هستی های ما را به مرور زمان و به تدریج از ما ربود، در عوض، بما عوام الناس تاحد زیادی نوعی از بینش و دانش ، فهم و درك سیاسی نسبی ای داد که بتوانیم در اثر آن نه تنها خوب را از بد فرق کنیم بلکه به قول حضرت علی کرم الله وجهه که ایشانرا باب علم می خواندند ، موفق گردیم بین دو بد هم قضاوت درستی به میان آوریم.

یا آزموده را بار دیگر نیازمائیم و ... یا عصای خود را دوباره گم نکنیم.

ما یعنی عوام الناس افغانستان در خلال مشکلاتی که هر دم و هرقدم با آن مواجه هستیم و خاصتا در داخل و حواشی نزدیك کشور ، درد و سوز آنرا بیش از دیگران در رگ و پوست و مغز استخوان خود احساس می کنیم و به وقول مولانای رومی:« خام بودیم پخته شدیم سوختیم». و با هر نوع و با هر قماش از سیاست های دنباله روی مخالفت می ورزیم . فکر می کنیم که بیشتر طرز تفکر و تعقل ریالستیك داریم.مثلا به جهر می گوئیم که: دو صورتیکه اهداف عالیه و کوشش های جمیله روم و قبرس بر محور واحد یعنی نجات افغانستان از ین مصیبت کبری این قیامت صغراست و به اصطلاح نیم کاسه ای در زیر کاسه وجود ندارد پس چرا به قول شهزاده ایرج مرزای ایرانی: چون به پیش در رسند ، از همدگر رم میکنند .

وگروه زیادی از وطنداران راناامید و مایوس می سازند؟

چرا بین لویه جرگه یا شورا و اجتماع کبیر یا مجلس کبیر و امثال آن به چنان فرقی قایل می شوند که در عوض (وصل) باعث آفت (فصل) می گردند؟ چرا این همه بزرگان ما چون ماش گاهی به یك سو و گاهی بسوی دیگر می لولند و برای یکدیگر خود چاه می کنند و از سبوتاژ کار می گیرند.

چرا با اصلاحات مانوس ، ملی و عام فهم و شناخته شده بازی می کنند و به این ترتیب مقدرات مردم و کشور خود را هم به بازی می گیرند؟ و همچنان تا آخر.

چرا بین ما بیچارگان باعث نفاق مضاعف می شوند؟

چرا ملت و جمعیت واحد ما را بیش ازاین تقسیم و از هم جدا می سازند؟

چرا با بهانه های پیش پا افتاده و ناموجه ترازو به زمین می زنند و ...

چنانچه ملاحظه می فرمایید ، سیاست ، طرز تفکر و منطق و بیان ما هم مثل خود ما ساده، روشن ، اسلامی و افغانیست ، اما حقایق ملی و میهنی ای در آن مستور و مکنون است که در سیاست مغشوش و پر از عقده و کامپلکس شمایان سیاستمداران برجسته و خبرگان و دانایان یا موجودنیست و یا از درك ما عوام الناس بالاتر است.

به هر تقدیر اگر برادران مشمول این دو جرگه ، اندکی لطف و تنزل فرمایند و شاهین این ترازو و قضاوت را اگر برای یکبار هم باشد بدست ما بدهند خواهیم توانست سنك های به اصطلاح عوا. «پخته» تاریخی و عنعنوی خود را در این ترازو به کار ببریم نتیجه این تول و ترازو را در ذیل این فارمول ملی اعلام کنیم که:

هر جرگه و یا جلسه بین الافغانی ایکه بیشتر به ملت و مردم این سرزمین جنگ زده توجه بیشتر دارد و حق مسلم (خودارادیت) قاطبهٔ مردم ما را از که تا مه مد نظرمیگیرد و به جمیع اقوام و قبایل برادر و برابر این کشور از پا افتاده و حتی به شمول جنگ سالاران موجوده که منحیث دو واقعیت در کشور پابرجا هستند ، احترام عادلانه قایل باشد و بیشتر از همه به اسلامیت و افغانیت ، این دو فیل پایه و یا ستون وحدت ملی و تاریخی ما متمسك است آنرا می ستائیم و از آن طرفداری خواهیم کرد نه جیز های دیگری .

چه مار گزیده ای بیش نیستیم که از ریسمان میترسد چه این ریسمان کوتاه باشد یادراز، رنگین باشد یا بی رنگ.

اینك با برادران ارجمند، مشمول درجرگه های روم و قبرس است تا در مورد این فارمول ملی با معیار وشاخص میهنی اندکی مکس و اظهار نظر کنند ورنه به قول های مشهور همان درك و همان خرك یا همان آش و همان کاسه خواهد بود. نه چیز دیگری و در غیر این صورت این دو جرگه بیشتر ازین راه تاریك ، باریك مشی ملی ما را سد نکنند و اجازه دهند تا مردم خود راه دیگری جستجو، و چون نیاکان پاك طینت خود در آن قدم نهند و با توکل به خداوند قادر و توانا (ج)در فکر آیندهٔ مرغوب ، مطلوب و مشترك خود شوند و به قول شاعرملی:

خنده بر دیروز را یکسو (نهند)
گریه بر امروز و بر فردا (کنند)

******

بقیه سرمقاله

کسانی زیر باران مرمی ورگبار مسلسل ها خود شانرا به «ارگ» کابل رسانیدند.

کودتای ثور ۱۳۷۲ نیز جواب منطقی به خواست مردم افغانستان شامل طبقات واقشار مختلف که طی جنگ خونین چارده ساله برای آزادی و تحقق ارمانهای شان، انقلاب بزرگ ملی و اسلامی خویشرا تاپیروزی همراهی کرده بودند نبود. و بدین وسیله (کودتا) یکبار دیگر ارمانهای والای توده های مردم قربانی خود خواهی دسیسه سازان و جنگ سالاران چند شده و دست آورد پر افتخار فرزندان افغان زمین در موقعیت خیلی ها حساس آن به غارت برده شد. مرکز همبستگی اقوام برادر افغانستان، پایتخت کشور و قلب آسیا (کابل) بحساب تفنگ و تفنگدار پارچه پارچه ساخته شده و عملاً جنگ بی بدیل آزادی و جهاد مقدس میهنی به راهی کشانیده شد که در آن برادر کشی وویرانی کشور از قبل پلان شده بود.

و از همین جا راه مجاهدین آزادی و چپاولگران ازهم جدا افتاد، آنانیکه بخاطر کسب رضای خداوندی و سربلندی وطن باکمال صداقت و ایمانداری رزمیده بودند راه نجات وطن و آنهاییکه در جهت بربادی هرچه بیشتر کشور واحد افغانها آستین ها بالا زده بودند راه به غلامی کشانیدن دوباره افغانستان را به پیش گرفتند.

شکل ظاهری تضاد میان آزادی و غلامی که همچو سایر نقاط جهان در افغانستان هم وجود دارد باگذشت زمان تغیر یافته است اما ماهیت اصلی آن که خود مختاری وبی اختیاری است وارد مرحله دیگری گردیده گرچه درین مرحله افغانستان مستقیماً زنجیر غلامی به پا ندارد اما جنگ تحمیلی بخاطر غلام سازی در ان شعله ور است امکان دارد بی بند وباری و انرشی مانند سالهای گذشته ادامه یابد اما طرفداران وبخصوص رهبران جنگ باید بدانند که نزد ملت مسلمان و قهرمان افغان همانگونه مسوول خواهند بود که گماشتگان دیروزي آله و ساخته دیگران و چنانکه آنان به آنچه که مردم افغانستان وبشریت از آن عار دارد نتوانستند افتخار کنند، اینان هم دست آوردی برای افتخار نخواهند داشت. زیرا جنگیدن با امکانات دیگران اگر غلامی نیست راه را برای غلامي کوتاه می سازد.

##########

د «الفت» په یاد پرتمینه غونډه

دوری په ۲۷ مه دلوی تنګرهار دکڅ په سیمه کي دمرحوم استاد گل پاچا الفت په مزار دهغه ستاینه په یاد غونډه جوړه شوه.

پیل یې د کلام الله مجید دځو آیتونو په تلاوت وشو، پرانستونکي وینا دننګرهار داطلاعاتو او کلتور رئیس ملا عتیق الله عزیزي وکړه، وړیې اروا شاد الفت لمسی حاجي میرویس الفت راغلیو مهلمنو ته ښه راغلاست ووایه. او له هغه ښاغلیو ځینو منه وکړه چې د دغه لوی درغتي غونډې په تدویر کې یې هلې ځلې کړې دي ، وړیې دهغه جوړ شوی ننداره تون ننداره وشوه چې داروا شاد په کور کې جوړ شوي وو.

له نندارې وروسته دمقالو دلوستلو برخه پیل شوه ، ښاغلیو بختاني خدمتګار ، نصرالله حافظ، محمد آصف صمیم ، ناګار، روغمن، زاخلیوال ، سیمسار، کمین، سبد مراد ، وطنیار او ګڼو ځوانو شاعرانو هم په هغه مشاعره کې چې دغرمنۍ او ډماسپنښین لمانځه وروسته پیل شوه دعقیدت پیرزویني استاد الفت ته ډالۍ کړې وړیې حبیب الرحمن الفت بوځل بیا له راغلیو ښاغلیو نه منه وکړه .غونډه دالحاج عزیزي په وینا او دعا نیمه پای ته ورسیده.

World Dairy Product We use only cow's milk

فقط از شیرگاو استفاده میکنیم

milk, Yoghort	شیر، ماست
cheese, Butter	پنیر، مسکه
Cream, Curd	قیماق، چکه
Dogh (Lassy), Solidcurd	دوغ و قروت

Address"
Shop No.2A, Seesan Plaza, F-10 Markaz, & Shop No.6 AL Rahman Plaza G-9 Markaz, Islamabad.

نوت: نشریه اراده را از آدرس های فوق در اسلام آباد به دست اورده میتوانید.

په افغانستان کښې دې وې سياسي، تولنيزې اوبشري فاجعې ...

راوپاراوه.

زمور هېواد چې خپل ځانګړي تاريخي: ديني، اجتماعي، اقتصادي اوکلتوري شرايط درلودل کمونېزم يابل ابزم ته اړه نه درلوده او يوازې يو غمخور حکومت يې غوښت دلته لوې اقتصادي شتمنۍ، روغتيايي او روزنيز خدمتونه، فابريکې او بانکونه ټول له خپل خاص عنعنوي ډول ملي او ددولت په واک کښې وو چې دټول ملت برخه پکښې وه اودې چارو يوه عادلانه وېش اودمتوازي انکشاف له لارې کار ته اړه درلوده.

کمونستانو دخونړۍ کودتا په کولو سره زمور دملي دفاع ځواک (عسکري قوه) له ملي هدف نه منحرف او دې وسله بنکېلاکګر ګاونډي هېواد په واک کښې ورکړ او له لومړۍ ورځې نه يې دمسلمانو او هېواد پالو منصبدارانو په وژلو او بندېانولو لاس پورې کړ، له لومړۍ ورځې يې دفردي او اجتماعي مصؤنيت چتر دملت له سره لرې کړ، له لومړۍ ورځې يې پر ملي شتمنيو چور او تالان ګډ کړ او له لومړۍ ورځې يې اسلامي مقدساتو او ملي ارزښتونوته سپکاوي پيل کړ.

له يوې خوا دافغانستان پر آزادۍ مين ملت چې په خپل ټول پنځه زرکلن تاريخي ژوند کښې يې دهېڅ قوت غلامۍ ته غاړه نه وه اېښې اوله بلې خوا خرڅ شوي کمونستان چې له کمونستي اېډيالوژۍ اودروس ترغلامۍ پرته يې بله لاره نه پېژندله سره مخامخ شول. څومره چې دکمونستانو وحشت زېات شو همدومره دملت مقاومت پياوړي شو او همدا وو چې په هېواد کښې سياسي، اجتماعي او بشري فاجعه دکمونستانو په لاس پېل شوه.

اوس چې دافغانستان وضع دبربادۍ، وروستي هډوکي ته رسېدلې اوپه هېواد کښې هېڅ هم پاتې نه دي کمونستان په فاتحانه اکټونو سره وايي چې مور خدمت کړي خو دادي وطن مجاهدينو او ملايانو وران کړ او زمور دخدمت مخه يې ونيوله خو حقيقت دادي چې په افغانستان کښې چې د ۱۳۵۷ کال د غويي له اوومې نېټې بيا دادي د ۱۳۸۰ کال د غويي تر اوومې نېټې چې څه شوي او باتردي وروسته چې څه کېږي داټول له همغې فاجعې نه زېږېدلي چې افغاني کمونستانو دروسانوپه لارښوونه خونړۍ، وحشيانه اودهېواد اواسلام ضد کودتا وکړه اودجنايتونو لړۍ يې په افغانستان کښې راونښلوله.

دوي زمور داسلامي اوپه پخو ملي بنسټيونو ولاړې تولنې په پولو او دهوالونو کښې رخنه وکړه او نړول يې پيل کړل دوي هېواد ته دتبرې دنا ولېو لاسونو راغځولو له پاره لاره هواره کړه اوبياله نورو خواو هم لاسونه راوغځېدل ، ورو ورو دهېواد له وجونه دظلم په چاره غوښې وتورلې شوې او اوس هډوکي ته ورسېده او وروستي هډوکي هم په بې رحمانه تورل کېږي. دوي دچور، چپاول، نفاق ورور وژنې ، ډلوژنې، پردونوکرۍ، کلتور ورانونې او نورو جنايتو ، خپانتونو او وحشتونو بنبادونه کښېښودل او اوس هم ددوي ډلواو ډلګېوپه مرسته دهېواد دلاورانۍ کار دوام لري نو ځکه دټولو ورانېو مسوولېت ددوي په غاړه دی اوافغانستان دسولې، آزادۍ او آرامي يوازينۍ دښمنان همدا کمونستان دي چې دخپلې خونړۍ کودتا په ګولو سره يې زمور آرام او هوساژوند هم نا آرامه کړ او خپل بادار يې هم له نړيوالې رسوايۍ اوبيا امحا ءسره مخامخ کړ.

دغوايي داوومې کودتا په افغانستان کښې دټولو فاجعو مور وه چې دمرغومي دشپږمې روسي تېرۍ يې هم وزېږاوه

دپاکستان اوسني سلوک دقومي اختلافاتو اوزړه ...

متوکل داهم ويلی دي چې افغانان په پېښور، کوېته او کراچی کې دپوليسو لخوا ځوروول کېږي، نېول کېږي، دپيسو په مقابل کې خوشي کېږي، مور دپاکستان له چارواکو څخه غواړو چې دمهاجرينو دستونزو په لرې کولو کې دې جدي مرسته وکړي.

***

هدف اصلی تحریم ها قیادت طالبان است

وسیاست های خشن طالبان خواند.

سفیر امریکا اضافه کرد: پاکستان در افغانستان دارای منافع خاص و مشخص است. ما از آن منافع اگاهیم و با آن کدام اختلاف نداریم اما آنچه هویداست این است که پاکستان بر طالبان نفوذ کافی دارد و ثبوت واضح آن پالیسی باز و برسمیت شناختن طالبان از سوی پاکستان می باشد. ما درک کرده ایم که پاکستان از نفوذ خود بر طالبان کار نگرفته است. ماخواهان تلاش مشترک با پاکستان در این زمینه بود و برپاکستان لازم است که باما همکاری کند.

ویلیم بی مایلم در جواب این سوال، تحریم ها بر افغانستان باعث عکس العمل ونارضایتی مردم و تنظیم های پاکستان شده آیا عراقب منفی ببار نخواهد آورد؟ گفت:

طوریکه قبلاً تذکر رفت منافع خاص پاکستان در افغانستان نهفته و پاکستان خواهان افغانستان مستحکم وبدون تهدید در همسایگی اش است ولی علت نارضایتی مردم و تنظیم ها را نمی دانیم.

۳۵ تنه افغان مهاجرين دبم چاودلو په تور ونيول شول

محمود ، محمد انور ، محمد ظفر ، سبد پادشاه، طاوس ، لعل محمد ، حاجي محمد ، نور آغا ، امتياز علي، مختار علي، حاجي نواب، محمد رضوان، پاچا خان، افتاب، يونس خان، محمد يحيى، عبدالمنان، مومن خان، مطلوب شاه، رحمت الله ، اشرف گل، گلزار خان، شاه لالا ، ملنګ، فېض محمد ، شېر علي او يو شمېر نومونه شاملي دي.

د تسليت عرض

دافغان نشراتي مرکز او دارادې خپرونې کارکوونکي او ټول غړي د پښتو ژبې دمشهور شاعر پير محمد «کاروان» دمور دمرينې له املې نومورۍ ته دخواخورۍ او غمرازۍ ژور مراتب څرګندوي او له لوی خدای څخه مرحومې ته بښنه او کورنۍ ته يې صبر او زغم غواړي.

ارواد ې ښاده وي

دغوئي اومه او اتمه

پوځ عملاً افغانستان ته راننوت.

۷- له پخوانۍ شوروي اتحاد او په هغه پورې تړلو هيوادو پرته له نورې نړۍ نه لرې والي او دګاونډيو سره په ښکاره هر اړخيز مخالفت .

۸- دکودتاګانو ترتېب او تنظيم يو دبل په وړاندې او په کې دبې ګناوو افغانانو نيول او وژل.

۹- دتقلبي جرګو او غونډيو جوړول دګوند دواکمنۍ دپياوړتيا لپاره.

۱۰- ددولت تر اخري شېبې پورې ددوی ترمنځ هر اړخيز اختلاف تر څو چې مخالفينو سره ائتلاف ته جوګه شول.

دغويي اتمه:

۱- دچپيانو او بنې اړخو ائتلاف ؤ.

۲- دافغانستان جمهوري دولت د افغانستان په اسلامي دولت بدل شو.

۳- د افغانستان په اسلامي دولت کې جمهور رئيس تش په نامه او بنسټيز قدرت دنظار شورا دقومندان احمدشاه مسعود په لاس کې ؤ.

٤- دغوئي تر اتمې وروسته پوځ، پوليس او امنيت ته رخصت ورکړ شو او تر يوه حده دولتي سيستم لغوه او په ځای يې د تنظيمونو ټوپک والا وګمارل شول.

۵- د افغانستان بهارونه او ولايتونه د مرکز يت نه ووتل دکلي نه تر ناحيې پورې دهر اړخيز ټوپک والي ډلې کنترول وه.

٦- دولس په يو نوم او بل نوم ټکول کېدل او مېشته ورونو قومونو ترمينځ داختلافاتو زياتول.

۷- هري جګړه ماري ډلې دخپلو بهرنيو اندېوالانو څخه دمرستو تر لاسه کول او دهمسنګره تنظيم څملول. دائتلافونو او کودتاګانو رامينځته کېدل.

۸- دمادي او معنوي شتمنيو چور تالان.

۹- په خپلمنځي جګړو کې دېې ګناه او مسلمانو بهاريانو په شهادت رسېدل.

۱۰- قدرت ددواړو اړخونو لخوا دفرمايشي شوراګانو او قرارداد ونو جوړول .

په افغانستان کې دچنګاښ تر شېرو بشتمې څخه تر ننه پورې په ټوپک او ټوپک زن پوره باور او اعتماد موجود ؤ نو ځکه دغوئي اومه او اتمه دپورتنيو حقايقو په رڼا کې که څه هم په پوره ډول پر تله شوي نه دي مګر بيا هم دا ترې نه جوتېږي چې دقدرت انحصار او په پردو تکيه څه ډول هر اړخيزې غميزې جوړوي که څه هم دا پر تله په يوه ستر توپير چې افغان اتل مسلمان ولس دخلک دموکراتيک ګوند اودپخوانۍ شوروي اتحاد په وړاندې دپاملرنې وړ قرباني ورکړي او ددې سرښندنو په مقابل افغان مهاجر، مجاهد ،قوماندان اورهبر لور نوم وکاته.

عام ولس په اصل کې دمقاومت اوجهاد دبرې بنسټېز لامل ؤ خو په افسوس سره بايد دا وويل شي چې يو شمېر جګړه مارو پدې سرښندنو پښې کېښودې او داقتدار دټينګولو په خاطر يې هېواد نور هم وران کړ او هېواد وال يې څه مهاجر او څه ووژل دادی دطالبانو تحريک په وړاندې دا تريخ حقيقت پروت دی که چېرې طالبان هم دقدرت دانحصار او په پردیو داتړکا کولو پالېسي ته دوام ورکړي تاريخ به ددوی نوم هم دپخوانو په څېر وليکي، هېله ده هرڅومره زر طالبان خپل ريږدلی ولس ته واک وسپاري ترڅو ولس دخپلې ارادې په خوښه راتلونکې وټاکي چې دهېواد دبيا جوړولو هر اړخيز کار پېل شي..

IN THIS ISSUE:

Editorial

1. 27th April 1979 coup started against Afghan wishes. Fighting with foreigner's weapons, if it doesn't mean Puppet, but opens the way for slavery. ..... Page 2.
2. Rome and Cyprus Peace process. By Mr. Dashti..... Page 1
3. Remarks on PDPA coup on 27th April 1979 and 28th April 1992 empowering of Mujahideen. By Sayed Daud..... Page 2
4. Unforgettable memories, to follow the future by the view of Past. By Fida M. Faiez. .....page 2
5. A report on Famous Afghan poet Late Gul Pacha Olfat..... Page 8
6. 35 Afghan refugees arrested for BombexplosioninIslamabad..... Page 1
7. Mr. Kofi Annan Gen. Sec. of UN. Asking for Coalition government in Afghanistan.
8. Will B. Milam: The focus of sanction is only Taliban leadership.
9. The recent behavior of Pakistan to cause confrontations and stuffiness..... Page 1
10. Is there fighting for power or the powers fighting, in Afghanistan? By Dr. Amanullah Hamidzai..... Page 1
11. 27th of April 1978 is a coup or a military uprising? An interview with Bebrak Khan Shinwary, Abdul Rashid Waziri, and Ibrar Mirgan. (Members of PDPA and Watan Party)..... Page 1
12. The Roll of Mass Media in Afghanistan in two recent decades. By Aliptageen..... Page 4.

ERADA

Bi- Weekly, Independent publication
Publisher: Afghan Media Resorce Center
Founder: Sayed Daud
Chief Editor: Atiqullah Pazhwak
Add: House #2, Canal Bank Road, U.P.O.Box No.909
University Town, Peshawar Pakistan.
Tel:(92-91) 41691. Fax:841785
E-mail : amrc@brain.net.pk
Subscription Rate:
In USA, Europe & Australia 30 US$
Regional Countries 15US$
Pakistan Rs. 100
US$ A/C: No. 01801406
Bank Al-Falah Ltd, 6-B, Islamia Road, Peshawar Cantt
You can remit your donations to the above account No.

اراده

دمقالو په انتخاب کې واکمنه ده. هره مقاله دليکوال دنظر څرګندونه کوی.
رارسېدلې مقالې بېرته نه ورکول کېږي.
دګډون کلنی بيه:
په امريکا، اروپا او استراليا کې: ۳۰ امريکايي ډالر
دسيمې په هېوادونو کې: ۱۵ امريکايي ډالر
په افغانستان کې: ۱۰۰۰۰۰ افغانی
په پاکستان کې: ۱۰۰ کلداري
دشپږمياشتو لپاره نيمه بيه. دپوستې لګښت داداري په غاړه دی.
ديوې ګڼې بيه: ۳ روپۍ
A/C US$ 01801406
الفلاح بانک. ٦ ب، اسلامیه روډ، پېښور
دلاس ته راوړلو ځايونه دپېښور ټول اخبار پلورنځی